
شاکر اورکزے

# څلک

شاکر اورکزے

---

اورکزي ادبي قافله (رجسټرډ)



شروع د الله ﷻ د نامې نه چې بخښونکے او مهربان دے

**د کتاب ټول واک محمد اکرم خلیل او محمد عباس خلیل سره خوندي دے**

## د کتاب پېژندګلو


❖ د کتاب نوم: ځلک (Zalk)

❖ شاعر: شاکر اورکزے

❖ پروف کتونکے: ډاکټر وزیر شادان

❖ انتخاب او ترتیب: رحمت شاه رحمت، اعجاز خټک

❖ نظر ثاني: عدنان بخاري، صادق سرګردان

❖ مخ پاڼه (ټائټل): لیاقت علي خان

❖ د چاپ کال: فروري ۲۰۱۸ء

❖ بیعه: ۲۰۰ روپۍ

❖ شمار: ۵۰۰

❖ پرېس: منګل کتاب کور پېښور

❖ خورونکي: اورکزي ادبي قافله (رجسټرډ)


ګرځنده شمیرې: 0333-5022803 , 0305-5953390

# تړون

د

# وخت

په نوم چې په خپله یو لوے

## نقاد

دے

---

کـه پـه مقـدار وي نـو پښـتو بـس مـالا مـال وګـڼـه
کـه پـه معیـار وي نـو بیـا کېـږي پـه حسـاب شـاعري

# ډالۍ

هغه

# پښتنو

ته چې په پښتو وئيلو، لوستلو، ليکلو او کولو وياړ محسوسوي او د ګلوبلائزېشن په دې دور کښې هم خپل پښتون شناخت ژوندے ساتي.

---

هلته نايابې شي نسخې د محبت د مرض
چرته چې پربوځي د ښائست په کتابونو دوړې

# د اورکزو وار

ول ډېورانټ د تهذیب د ظهور، عروج او زوال په باره کښې لیکي چې تهذیبونه فنا کېږي نه البته وخت په وخت خپل تاټوبي او مرکزیتونه بدلوي، د تهذیب ډیوې کله په بابل کښې بلېږي کله بیا د نیل غاړو ته په غېر محسوس انداز مزل ترسره کړي، هم دغه شان د یونان او روم تهذیبونه ټول په جدا جدا وختونو کښې ځلېدلي او بیا د وښنا ترحده فنا شوي دي خو بیا په یو بل پړاو د نړۍ په یوه بله برخه کښې بیا راښکاره شوي دي.
ښېخي په دغه مصداق چې زهٔ د پښتو شاعرۍ تاریخي سفر او پېشرفت ته ګورم نو کله یې پېښور کښې خېمې ښخې کړې وي کله یې د خېبر نه خوږې خوږې انګازې راپورته کېږي او کله یې بیا د مرکزیت په توګه ځان له د مردان انتخاب کړے وي مګر اوس داسې ښکاري چې د ادب دا مینه په اورکزو راغلې ده. په لږه موده کښې دومره ډېر او دومره سنجیده اورکزي شاعران مخې ته راغلل لکه د اورکزو په مالت کښې چا د شعر چراغان کړي وي .
شاکر اورکزے هم له دغې جملې څخه له دغو چراغونو څخه یو چراغ دے چې تر یوې معقولې مودې د شعري ریاضت نه پس اوس په دې جمله کښې ځان شاملوي. د هغهٔ اواز خو به مونږ ته وړاندې هم د انفرادي نظم او غزل په شکل کښې رارسېدو مګر اوس خپل ځان د اجمال نه په تفصیل کښې بدلوي، کتاب چاپ

کوي او د یو شاعر دا کتابي تفصیل زمونږ د لوستونکو د پاره ضروري په دې سوب وي چې دا د شاعر د شخصي کاینات مترادف وي د هغهٔ په دې کاینات کښې مونږ ته د هغهٔ د حقیقي ژوند او تخیلاتي ارزوګانو یو احساساتي تاریخ په نظر راځي په نورو الفاظو شاکر اورکزے هم مونږ ته د خپلو احساساتو مفصل تاریخ وړاندې کوي.

دا د شاکر ابتدائي زیار دے خو د چا خبره چې د نر زوي پته په زانګو کښې لګي نو د شاکر دا ابتدائي زیار هم په فني او فکري حواله تر کافي حده د یو داسې متانت ښکارندوي دے چې د ادب په بابله او په مستقبل کښې د ادب سره د خپل کمټمنټ په حقله د هغهٔ د سنجیدګۍ نخښه پته راکوي.

د شاعرۍ په باره کښې دلته د سنجیدګۍ خبره په دې خیال وشوه چې د تاریخ په تېرو وختونو کښې ځنګه شاعرۍ ته د تفریحِ طبع په نوم یوه غېرسنجیدګي منسوب شوې وه زمونږ دا دور او ددې دور شاعري داسې تفریح ته د قبولیت په سترګه نهٔ ګوري بلکې دې سلسله کښې که د شاعر او لوستونکي دواړو طبیعت ته ځیر شو نو دا ټول احساس د اروابناد اندېش دې شعر ته راغونډ برې

دا شعر د شعور غږ دا نغمه د زندګۍ غږ
ارمان که چا دا فن د افلاطون کنډر ته یوړے

زمونږ د دور شاعري یوازې د ژوند ژوندي حقیقتونه په حقیقت پسندانه مګر هنري دوشاله کښې ملبوس نۀ پېش کوي بلکې دلته د عشق او رومان جذبات هم په حقیقت پسندانه تله تللي وړاندې کولے شي ددې یو مطلب دا هم جوړېږي چې زمونږ د دور جذبه او احساس یوازې جذبه او احساس نۀ دي بلکې دا د جدید ژوند د جدیدو حقیقتونو سره یو ګنډلے او مرکب صورت رامخته کوي.
د خوشحالۍ خبره دا ده چې شاکر اورکزے د خپل وخت ددې میلان نه ناخبره نۀ دے بلکې د هغۀ شعري رویه د خپل وخت د بهیر سره په څنګ کښې روانه ده او د خپل ژوندي وجود د ژوندو ساګانو او ارزګانو ژوندے ثبوت ورکوي.

شاکر خو هلته هم د ګلو په لباس کښې ګرځي
چرته چې هیڅوک د ګلونو حمایت نۀ کوي

که څۀ هم په شاعرۍ کښې د ژوند حقیقتونه ځایول یو دقیق اظهاري صورت دے او د پېشکش په حواله یې د یو لیکونکي سره د علمي اظهار او هنري اظهار بېل او واضحه اسلوبیاتي شعور پکار وي ځکه چې که یوې خوا ته د یوې موضوع په سپاټ پېشکش کښې د اظهار مقصد ترسره کېږي اګرکه منظوم هم وي مګر بلې خوا ته هنري لطافت یې خپل اصلیت وبائیلي، د شاکر په شاعرۍ کښې خال خال ځایونه داسې ارومرو شته چې د سپاټ اظهار له کبله یې شعر نعره بازۍ ته ورنزدې شوے دے خو د شعر

زیاتره برخه یې د سوچه فني او تخلیقي اظهار په معیار ولاړه ده ځکه مونږ وئیلے شو چې د شعور تر حده شاکر د اظهار د نزاکتونو او لطافتونو نه بې خبره نۀ دے البته دا هر څۀ د فني تجربې نه راتېرول او کامیابول مسلسل مشق او ریاضت او د هغې پختګي ته هم اړتیا لري او د مشق او ریاضت پختګي یوه معقوله موده هم غواړي نو دې سلسله کښې مونږ شاکر ته په امید افزا سترګه کتلے شو .

هم دغه شان د شاکر په شاعرۍ کښې چې ماته بل کوم امید افزاء صورت تر سترګو کېږي نو هغه د شاکر د شعر لفظیات او د لفظیاتو تخلیقي استعمال دے کوم چې سم له اوسه د لفظیاتو د زېرې ذخیرې نه لاتعلقه ښکاري او د خپل وخت الفاظ د خپل وخت د غوښتنو سره سم استعمالوي په دې اساس مونږ وئیلے شو چې که شاکر ته د خپل ژوند ګوناګون معاشي ضرورتونو لاره بنده نۀ کړه او هغه د فني تجربو په مشق او ریاضت روان پاتې شو او د خپلو لفظیاتو تل ته پرله پسې مخ په ښکته روان وي نو داسې معنویتونه او د تخلیق داسې صورتونه به دریافت کړي چې همدا مونږ به رشک هم پرې کوو او په ستاینه به ئې هم نۀ مړېږو.

**قیصر اپریدے**

**١٤ دسمبر ٢٠١٧ء**

# د "ځلک" ځلا

د پښتو شاعرۍ د غزليه روايت د ژورې مطالعې نه معلومېږي چې پښتو غزل د شروع نه تر ننه د ژوند او ټولنې د ترجمانۍ منصبي فريضه په ډېره تخليقي او تهذيبي انداز ترسره کړې ده. دلته که يو خوا د مينې او حسن غوندې افاقي موضوعاتو د اظهار ترجمانه ژبه موندلې ده نو بل خوا عصري مضامينو هم خپل ممکن اواز او متوقع انداز موندلے دے. لکه څنګه چې د افاقي او عصري موضوعاتو سره د تخليقي تعلق او تهذيبي سلوک په دوران کښې غزل په قدرتي توګه او غېر محسوس انداز وخت په وخت خپله فني او فکري پېرايه بدله کړې ده، دغه رنګ د بېله بېلو دبستانونو يا رويو او رجحاناتو سره منسلک، هر لوے يا ښۀ شاعر په خپله خپله حواله او سطح د غزل په فني جوړښت او فکري جامه کښې بدلون او ژوندون راوستے دے او دغه شان د پښتو غزل اجتماعي، تخليقي او تهذيبي روايت په وجود او نمود کښې راغلے دے.

که په غور وکتل شي نو په دې اجتماعي تخليقي تهذيبي روايت کښې د تصوف، قوم پرستۍ، ترقي پسندۍ، انسان دوستۍ، رومانويت، جديديت، قدامت پسندۍ او وجوديت مختلف او متنوع فني، فکري رنګونه،نظرياتي او فلسفيانه رڼاګانې په نظر راځي چې غزل ليکونکي ترې نه نۀ يوازې خپل فکري مزاج او ذوق او ذهن مطابق رڼا او ځلا اخلي بلکې د خپل تخليقي توفيق مطابق د دې روايت په ثروتمندۍ کښې خپله ونډه هم اچوي او دغه شان د غزل دا روان ودان روايت په يو فطري انداز مخ په وړاندې بوتللو کوشش هم کوي.

د **9/11** نه پس لکه چې څنګه د ژوند په حواله عمومي فکرونظر بدل شوے دے چې د خلکو د رويو او رجحاناتو نه يې واضحه اندازه لګي. دغسې پښتو غزل هم په دغه حواله د خپل فطري حساسيت او فني فعاليت زبردسته مظاهره کړې ده او ځان يې د ژوند عمومي او پښتني ټولنې د خصوصي مطالبو او غوښتنو سره سم بدل کړے دے. که څۀ هم د بنيادي مطالبو او ضمني غوښتنو په تخليقي معامله کښې په قدرتي توګه د اختلاف،تضاد او تنوع صورتونه هم مخ ته راځي خو بيا هم په مجموعي حېث پښتو غزل خپل بنيادي جوهر او مظهر يعني روح او رُخ تر ډېره حده بدل کړے دے. دا وجه ده چې زۀ دغې واقعې ته د پښتو په شعري روايت کښې د **"Paradigm Shift"** په نظر ګورم چې د يو چېلنج په حېث په خپله لمن کښې امکانات او خطرات دواړه مظاهر لري.

موجوده منظرنامه کښې مونږ ګورو چې د دې واقعې په نتيجه کښې که يو خوا د نظرياتي (قام پرست،ترقي پسند ........) شاعرانو په نظريه کښې په عمومي توګه شدت، سنجيدګي او ګهرائي نوره هم سيوا شوې ده نو بل خوا غېر سياسي، غېر نظرياتي يا لبرل او د مذهبي طرز احساس لرونکو شاعرانو هم طوعاً کرهاً نظرياتي ، سياسي لهجه اختيار کړې ده.دې کښې شک نشته چې ځينې ليکونکيو د خپل ژور فطري مېلان په زور يا د دې مخصوص طرز احساس او طرز اظهار په ضد خپل قلم او قدم ضرور پورته کړے دے خو د دوي په احساس او اظهار کښې شايد دومره زور نۀ وۀ چې په نتيجه کښې يې فني توازن او فکري اعتدال مينځ ته راغلے وے، نو د فطري هم اهنګۍ هغه تصور چې محبوب دے، په تخليقي شکل کښې لا مخ ته نۀ دے راغلے. يا د تاليف هغه نکته نظر چې مطلوب دے، د عمومي نظرياتي سياسي لهجې باوجود د غزل بنيادي روح نۀ دے ګرځېدلے. نتيجه دا چې هغه

پښتو غزل چې چرته په خپلو ښو ورځو کښې د قام پرستۍ، ترقي پسندۍ د تمام تر مزاحمتي ښې باوجود په مجموعي توګه د "میني" نه عبارت وۀ. نن سبا د ارمان او رومان د کلهم کېفیاتو باوجود په مجموعي حېث د "ویني" نه عبارت ګرځېدلے دے. لکه څنګه چې د "میني" نه تشه مینه مراد نۀ ده، دغسې د "ویني" نه هم دلته خالصه وینه نۀ ده مقصود بلکې نور هم ډېر تعبیري،فني او فکري متعلقات ترې مراد دي. بهر حال ځینې صورتونو کښې یوه باقاعده باغیانه لهجه هم مخ ته راغلې ده چې د ژوند د مثبت ، صالح او صحت مندو قدرونو سره یې په غېر ضروري توګه ټکر خوړلو کښې دوه رائې نۀ شي کیدلے.
که په ژور نظر وکتل شي نو په دې مخصوصه حواله د شاعرانو څۀ دومره زیات قصور هم نۀ وۀ ځکه چې د دې په شا که یو خوا د تاریخ جبر کار فرما وۀ نو بل خوا د تخلیق منصبي فطري رویې هم دلته خپل عمل دخل درلود. دا بېله خبره ده چې د دې فطري رویې په اظهار کښې شدت او حدت ضرور موجود وۀ خو بیا هم د خوشۍ خبره دا ده چې پښتو غزل نۀ یوازې دا دستیاب صورتحال وصول او قبول کړو بلکې په دمه دمه یې د خپل بنیادي مزاج او منهاج مطابق فني او فطري اعتدال ته د راوستلو کوشش هم جاري وساتلو او تر څۀ حده په دې کوشش کښې کامیابي هم تر لاسه شوه.
یقیناً د فن او فکر په سطح دا هغه مرحله وه چرته چې پښتو غزل د خپلې فطري ارتقا لار په اجتماعي توګه مخ په وړاندې بوتلې شوه. خو حقیقت دا دے چې پښتو غزل د دې صورت حال سره لا سمه سمجهوته هم نۀ وه کړې یا د خپل معمول صورت حال ته واپس هم لا نۀ وۀ راغلے چې د بد قسمتۍ سره پښتو غزل سره د فېس بک د تماشې په شکل کښې یوه بله حادثه وشوه. دې کښې شک نشته چې د دې حادثې په

نتیجه کښې د مختلفو ذهنونو د خلا، د زړونو د درزا او د مختلفو جذباتو، احساساتو او خیالاتو د ناګهانه قربت او قوت په بنا پښتو غزل کښې فني، فکري طور ثروتمندي هم متوقع او ممکنه وه. سمه خبره دا ده چې ځینو سینئر شاعرانو د خپل مضبوط تخلیقي بنیاد او ژور او ستر پس منظر لرلو په برکت په دې حواله کامیابي هم وموندهٔ. دغه شان د جونیئر شاعرانو له خوا هم نوے اواز، تازه انداز او تازه کار الفاظ هم مخ ته راغلل. خو چونکې دا سلسله دومره شدت، حدت او تسلسل سره وچلېده (او لا روانه ده) چې اکثر لیکونکي یې په یو غېر محسوس انداز د یو محویت په عالم کښې د ځان سره په مخه کړل. هر کله چې دوي حالت صحو ته بېرته راغلل نو اوازونه، لفظونه، اسالیب مسالیب او خیالات تصورات د یو بل سره داسې ګډ وډ شوي وو چې په کښې تمیز کول ناممکن نهٔ سهي خو ګران ضرور وهٔ او اوس هم تر ډېره حده دغه حالت دے.
که څهٔ هم په دې موده کښې د قامي او فني فکري ضرورت مطابق هم غزل ولیکلے شو خو د دې نه هم انکار نهٔ شي کیدلے چې زیاتر د مارکیټ ضرورت په نظر کښې وساتلے شو. مطلب دا چې د طلب او رسد پېمانه معیار وګرځېده. په دې حالاتو کښې چې د لفظونو سره کومه لوبه وشوه که خداے مې نهٔ غلطوي په تمام انساني تاریخ کښې به چرته نهٔ وي شوې. په شپه شپه کښې تشبیهات او استعارې یعني فني تکنیکي سهارې بدلې شوې. د خداے شان، د پیر کرامت او د لالا برکت ګوره چې دلته هغه لفظونه هم د شعري متن برخه وګرځېدل چې شاعر غریب یې د معنې نه هم نهٔ وهٔ خبر. دلته داسې خیالاتو ته هم په زور زبردستۍ د شعري تجربې شکل ورکړے شو چې د شاعر په خوا خاطر یا سان ګمان کښې هم چرته نهٔ وو راغلي.

په داسې حالاتو کښې د فن او فکر په سطح خپل اصول او اسلوب برقرار ساتل د ناممکن تر حده ګران امر وۀ. په دې مېدان کښې چې کوم کم شمېر ليکونکي په خپل تخليقي موقف او تهذيبي مسلک محکم پاتې شول، هغوي کښې زمونږ ښکلے شاعر ښاغلے شاکر اورکزے صيب هم شامل دے.

هر کله چې مونږ د شاکر دې فني فکري استقامت ته ځير شو نو مونږ ته محسوسېږي چې د دې په شا په خپل ذات او صفاتو د شاعر مضبوط اعتماد کار کوي. د دۀ د ذات د تعمير او د صفاتو د تشکيل په معامله کښې که يو خوا د موصوف د بنيادي اسلامي، پښتني طرز احساس زبردست عمل دخل دے نو بل خوا په دې پسې د شاعر جاري مطالعه، روانه مشاهده، فکري بلوغت او انفرادي صلاحيت هم کار فرما ښکاري. دا وجه ده چې زمونږ شاعر، زمونږ شاکر نۀ يوازې دا چې په روان بهير کښې نۀ دے بهيدلے بلکې ځان له يې خپله لار هم ټاکلې ده.

د دې دا مطلب هرګز نۀ دے چې محترم شاکر د حالاتو يا د قامي ذمه وارۍ نه سترګې پټې کړې دي. نۀ ! دا تاثر او تصور درست نۀ دے. ځکه چې د شاعر د شاعرۍ يوه لويه برخه د قامي ذمه وارۍ د شعور او احساس نه عبارت ده. خو اصل خبره دلته دا ده چې ښاغلے د ژوند هرې واقعې، وقوعې يا صورت حال ته په خپل تخليقي، تنقيدي او تهذيبي نظر ګوري. دا هغه رويه ده چې که يو خوا د شاعر تخليق ته تهذيبي بڼه بخښي نو بل خوا د شاعر په تنقيدي او تجزياتي صلاحيت کښې هم وسعت او ژورتيا راولي. دا وجه ده چې د موجوده کړکيچنو حالاتو د تشکيل د ذمه وارو د تعين په ضمن کښې د تمام تر سنجيدګۍ، رنجيدګۍ يا سختۍ باوجود موصوف داسې لهجه يا داسې لفظيات نۀ

کاروي چې مونږ يې د ژوند د صالح، د تهذيب د صحت منو قدرونو يا د فن د ښکلو ښاغلو روایاتو سره د مستقل تصادم باعث وګڼو.
زۀ منم چې د يو حساس انسان او د دردیدلي پښتون شاعر په حېث د شاکر لهجه ځاے په ځاے ترخه شوې هم ده يا په کښې کله کله بلند اهنګي هم راغلې ده خو زهرجنه شوې چرته هم نۀ ده. زمونږ شاعر ته د دې حقيقت کامل احساس او ادراک دے چې که څۀ هم فن د ژوند عکاسي او ترجماني ضرور کوي ولې دا ترجماني منفي نۀ يو مثبت بنياد لري. عين ممکن ده چې د حالاتو مطابق د ليکونکي په لهجه کښې تلخي هم راشي خو که دا تلخي د بنيادي کرب پېداوار وي او د حرب او ضرب د ذهنيت نتيجه نۀ وي نو مونږ يې د تخليقي اظهار په زمره کښې اچولے شو. دلته هم دغه مثبت صورت په نظر راځي.
بله خبره دا هم د شاعر په نظر کښې ده چې سميت يا زهر پسندي چرته چې د ژوند دپاره يقيناً د هلاکت سبب دے، هلته په اخري تجزيه کښې د فن خصوصاً د غزل دپاره هم څۀ کم خطرناک عمل نۀ دے. دا وجه ده چې کوم معقول او باشعوره سړے هم داسې رويه نۀ **Commend** کولے شي او نۀ **Recommend** کولے.
هم دغه فني شعور دے چې ښاغلے شاکر يې د فني منفياتو او فکري منشياتو نه ژغورلے دے. دا وجه ده چې چرته ښاغلي د **9/11** نه پس د تشکيل کړي شوو حالاتو ترجماني په تعميري او تهذيبي انداز کړې ده، هلته يې د سوشل ميډيا په ورځانه بنياد پېش کړي شوو تخريبي، عين عاجلانه او جعلي جذباتو نه هم خپل غزل سلامت ساتلے دے. په دې تناظر کښې که زۀ دا ووايم نو شايد بې ځايه به نۀ وي چې زمونږ شاعر داسې کوم ټکے يا ترکيب هم د خپل شعري لغت حصه نۀ دے

ګرځولے چې د دۀ ورسره کومه ذاتي، نظرياتي، عاشقانه يا سياسي تلازمه نۀ جوړېږي.
دلته دا هم ناممکنه نۀ ده چې د شاکر دا فني رويه د ځينو حضراتو په نظر کښې في زمانه تر ځۀ حده د خسارې سودا هم وښکاري. خو اصل او قابل داد امر دا دے چې زمونږ شاعر به شايد دا د خسارې سودا خو د خپل هوش و حواس د سلامتۍ سره قبوله کړي. ولې "د سهارې سودا" قبلولو ته به زما يقين دے په خوب کښې هم تيار نۀ شي. ځکه چې دا لائحه عمل  يا طريقه واردات که يو خوا د شاکر د بنيادي طبيعت برخلاف عمل دے، نو بل خوا د دۀ د فني فکري تربيت برعکس هم دے. زۀ محسوسوم چې خپل طبيعت او تربيت به کله هم زمونږ شاعر ته دا اجازت ور نۀ کړي چې ښاغلے د نورو مبتلو شوو لفظونو او ژوولو شوو جذبو نه تخيل او تجربه کشيد کړي.
بله خبره دا هم د ستائيلو وړ ده چې زمونږ شاعر د خپل فن د انفرادي او د پښتو غزل د اجتماعي فطري ارتقا د ضرورت د احساس سره سره د خپل انفراديت د برقرار ساتلو شعور هم لري. هم دغه ژور او بختور شعور دے چې شاکر يې په خپله ټاکلې لار روان ساتلے دے. ودان ساتلے دے.
د ګران شاکر د شاعرۍ د مطالعې نه پس مونږ په اسانۍ او سلامتۍ سره وئيلے شو چې دا شاعري د ژوند او زمانې عمومي فضا او د موجوده دور او د پښتني ټولنې خصوصي ماحول په خپله تخليقي لمن کښې رانغاړي. دلته که يو خوا د مينې او حسن او نورو ډېرو متعلقه افاقي اقدارو او احساساتو ترجماني شوې ده نو بل خوا د عصري او مقامي حالاتو عکاسي هم د دې شاعرۍ يوه اهمه او محترمه برخه ده.
زمونږ شاعر چرته چې د يو **Inborn** او مئين شاعر غوندې مينه ، حسن

او نور داسې روماني موضوعات او ارماني کېفيات د خپل غزل غذا ګرځولي دي.

چرتــه چــې کــر د محبــت نــۀ کېــږي ژونــد نــۀ کېــږي
چرتــه چــې نفــي د نفــرت نــۀ کېــږي ژونــد نــۀ کېــږي

د ګلونــــــو د ربېلــــــو کــــــار مــــــې نــــــۀ زده
زۀ مالیـــار يـــم د ګلچـــين روزګـــار مـــې نـــۀ زده

نو بل خوا يې د **Son of the soil** په حېث د پښتون قام او پښتون ولۍ په تحفظ او استحکام هم برابر زور راوړے دے.

مړ هم پښتون پړ هم پښتون شاکره وجه څۀ ده؟
څومره ناسازې په دې قام کېږي څوک غږ نۀ کوي

هر کله چې مونږ د دې شاعرۍ د غږ ژورتيا ته کوزېږو نو محسوسوو چې د شاعر د هرې موضوع، مضمون، خيال، خبر، نظر،منظر، مظهر او کېفياتو وارداتو په شا يو متوازن، مهذب او منظم اسلامي طرز احساس او پښتني طرز فکر کار کوي. دا هغه طرز فکرواحساس دے چې که يو خوا په نفسياتي او ثقافتي سطح په بېله بېلو حوالو د تهذيبي تصادم نه د بچ کولو کوشش يا په يوه مشترکه اجتماعي، تهذيبي لار د بوتلو خواهش دپاره لار هواروي نو بل خوا په فني فضا کښې پښتو غزل هم د يو "نو فطري" ترکيب و تاليف سره اشنا کوي.

نو فطري تاليف او ترکيب ورته ځکه وايم چې د مطالعې او تجربې نه ثابته ده چې پښتو غزل کښې په يو وخت اسلامي او پښتني طرز

احساس په تخليقي، تهذبي پيرايه کښې ځايول انتهائي ګران عمل دے . زۀ دا نۀ وايم چې غزل ليکونکيو به په دې لړ کښې کوم کاوش يا خواهش نۀ وي کړے خو سوا د حمزه بابا او دوه درې نورو غزل نګارو نه، بل کوم ليکونکے کم نه کم ما ته په نظر نۀ راځي چې په دې حواله يې کاميابي ترلاسه کړې وي. په روان دهشت زپلي دور کښې خو د دې ذکر شوې هم اهنګۍ تصور هم د خطرې نه خالي نۀ دے. ځکه چې هغه ظرف او ذوق د څۀ په بنياد چې په مذهبي او پښتني طرز احساس کښې د هم اهنګۍ، امتزاج يا وحدت راوستلو يو څۀ امکان پېدا کېدے شو. مونږ د تاريخ يا شايد د تقدير د جبر، نظرياتي انتهاپسندۍ او د مغربي نظرياتو تصوراتو د منفي او مضر اثراتو له کبله تر ډېره حده بائيللے دے.

دا وجه ده چې مونږ موجوده عمومي تخليقي ماحول ته ګورو نو وينو چې چرته د مذهبي طرز احساس لرونکي شاعران عموماً د پښتني طرز فکر د پاره په زړۀ کښې کومه خاصه يا خالصه نرمه ګوشه نۀ لري، هلته د پښتني طرز احساس حامل شاعران هم مذهبي طرز فکر ته په خپل فن کښې ځاے ورکولو ته تيار نۀ دي. په داسې يو تر بله متصادم صورت حال کښې په دې حواله يو ترکيبي تاليفي تناظر قبلول او اختيارول يقيناً د شاکر تخليقي جهاد او ادبي اجتهاد دے.

مونږه اسلام او پښتو خپلو کښې بېل بېل نۀ ګڼو
مونږ د جمات او د حجرې د زړۀ نه قدر کوو

خو د دې تاليفي نکته نظر دا مطلب هرګز نۀ دے چې د مذهب او پښتون ولۍ په حواله زمونږ "راوی چین ہی چین" ليکي. بلکې زما په خيال په حقيقت کښې هم دغه تاليفي نکته نظر دے چې زمونږ شاعر ته يې د مذهب او پښتو په هر دوو حوالو د خاميو کوتاهيو د نشاندهۍ کولو صحيح معنو کښې اخلاقي جرأت بخښلے دے.

هغــه کارونــه چــې پــه يــو مــذهب کښــې نــۀ دي روا
هغــه پــه نــوم چــې د اســلام کېــږي څــوک غــږ نــۀ کــوي

چــې څــوک د خپلــې خــاورې پــه نــوم مــړۀ دي او ګمنــام دي
د داســې شــهيدانو چــې لــږ شــمار وکــړي څــوک شــته

دغه اخلاقي جرأت د ژورې مشاهدې او د فکري فضائي تجزيې په مرسته په تخليقي جرأت کښې بدل شوے دے چې شاعر ته يې د هوا او د فضا د نيت نه د وخت نه مخکښې اګاهي بخښلې ده.

د ســپرلي د هــوا نيــت چرتــه ښــۀ نــۀ دے
کــه زمــا او د ســتا نيــت چرتــه ښــۀ نــۀ دے

ويــر موســم دے، ورمــې نشــته، ورم خــور دے
پــه چمــن کښــې د چــا نيــت چرتــه ښــۀ نــۀ دے

دا شعرونه د شاعر د حواسو د بیدارۍ، د جذبې د حساسیت او د فکر د زیرکتیا ژوندۍ ګواهي ورکوي. د شاعر د فکر زیرکتیا، د خبر او نظر نه مرکب او مرتب شوې ده. دا وجه ده چې موجوده په ظلم او زیاتي مبني علاقائي او عالمي صورت حال ته په کوټلي او ټاکلي موقف سره ګوري.

هلتـــــه د غــــــرۀ د ځنـــــاورو هــــــم پوښـــــتنه کېـــــږي
دلتـــه زمـــونږه قتـــل عــــام کېـــږي څــوک غــږ نــۀ کــوي

د ژونــــــد د پســــــرلي د ســــــرو ګلونـــــو قـــــاتلان دي
دا خلـــــک د فطـــــــرت د موســـــــمونو قـــــاتلان دي

دا څــوک چــې پــه دنیــا کښــې د تهــذیب دعوېــداران دي
پـــه اصـــل کښـــې هـــم دا د تهـــذیبونو قـــاتلان دي

د تهذیبونو دپاره دا حساس شاعر، ظاهره خبره ده، د خپل پښتني تهذیب او ثقافت هم د زړۀ نه قدر کوي:

مـــونږ د شـــملې او لـــوپټې د زړۀ نـــه قـــدر کـــوو
مـــونږ د بابـــا او د ادې د زړۀ نـــه قـــدر کـــوو

دغه او داسې نورو شعرونو کښې د پښتني ثقافت، د وینې او د مینې د رشتو تقدس او د فطري او ثقافتي مظاهرو یکجائي او یک جهتي یو بې کچه ښکلې سپېځلې منظر پېش کوي:

د کائنات ټول ښائستونه په یو ځای پنډ شوي
سپرلی، سپوږمۍ، شباب، رباب او انتخاب شاعري

که څهٔ هم د فطرت، حسن، ثقافت، شعور او شاعري هم اهنګ کونکے شاعر چې کله هم د ستورو په مخونو دوړې یا ګلاب په پنجره کښې بند ویني نو بالترتیب د نظام او د مصنوعي ارتقا په غندلو کښې یوه لحظه هم تامل نهٔ کوي. خو بیا هم د یو مهذب شاعر په حېث کله هم د فطرت نه بغاوت نهٔ کوي. فطرت د نظر لاندې شاعرۍ کښې د انساني سماج د اعتدال او د قامونو د مزاج د توازن علمبردار سره سره د بېله بېلو فطري او جمالیاتي منظرونو په شکل کښې هم مخ ته راځي. یقیناً دا هغه قابل ذکر مرحله ده چرته چې زمونږ شاکر زمونږ شاعر د منظر کشۍ د فن مجربه حربه په ډېره هنر کارۍ سره کاروي او دغه رنګ ښکلي ښاغلي منظرونه تخلیق کوي:

ماښام دے ښکلي واړه کور ته ځي او زهٔ ولاړ یم
احساس د تنهائۍ مې زړهٔ سیزي او زهٔ ولاړ یم

د ژوند په ځلور لاري کښې د ځان په تماشه یم
په هره لاره خلک ځي راځي او زهٔ ولاړ یم

دغه او دا قسمه نورو ډېرو شعرونو ته که مونږ ځیر شو نو محسوس به کړو چې دلته منظر کشي او د مصرعو رواني او نغمګي د یو بل سره غاړه غړۍ شوي دي. حقیقت هم دا دے چې دا عنصر د شاکر د غزل یو

ځرګند او ځلند خصوصیت دے چې دې شاعرۍ ته رنګ، رنها، ښکلا، تاثیر، تصویر او ځلا ورکوي.
که د لفظیاتو د انتخاب، ترتیب او نشست و برخاست په حواله خبره وکړو نو دلته هم مونږ وئیلے شو چې شاعر تر ډېره حده کامیابي موندلې ده. ښکلي لفظونه، ښاغلي ترکیبونه، د ماحول نه اخذ شوې استعارې، ژورې تلازمې، روان بحرونه، ودان ردیفونه د دې شعري مجموعې "ځلک" ځلا سازوي او زیاتوي. حقه خبره دا ده چې په"ځلک" کښې د فن او فکر په دواړو حوالو د یو ځۀ ظاهري تضاد د تحلیل یا لږ ځۀ خارجي خلا ډکولو نه پس یو ښکلے او سپېځلے توازن په نظر راځي. دغه توازن که یو خوا د شاعر د مستقل او معقول نظام فکر ګواهي ورکوي. نو بل خوا د شاعر او زمونږ نظر د مسئلې د مستقل حل په لور هم راګرځوي. دې مرحله کښې زمونږ شاعر د یو تهذیبي منشور او اجتماعي سماجي، صالحې او صحت مندې بیانیې سره زمونږ مخ ته راځي:

د خلکـــو ذهنیـــت او رویـــې بـــدلول غـــواړي
جانانـــه! دا بـــاطلې عقیـــدې بـــدلول غـــواړي

دا لاره د ځنګـــل پـــه وحشـــتونو تمـــامېږي
رهبـــره! دغـــه رخ د قـــافلې بـــدلول غـــواړي

انســـانه! د دنیـــا پـــه مـــخ د امـــن لـــه خـــاطره
د جنـــګ د تعصـــب دا ســـیپارې بـــدلول غـــواړي

زما په نظر دا هغه تهذيبي بيانيه او اخلاقي منشور دے چې نۀ يوازې په قامي او بېن الاقوامي سطح مطلوب او محبوب ګرځېدلے شي بلکې د پښتو غزل د فطري ارتقا په لار کښې هم خپل "ځلک" ښودلے شي.

زۀ في الحال په يقين سره نۀ شم وئيلے چې د شاکر غزل به د پښتو جديد غزل د غېر فطري ارتقا لار تر څۀ حده ونيسي يا به کوم نوے ټرېنډ سېټ کړي خو دا ضرور وايم چې د پښتو غزل د فطري ارتقا په معامله کښې به د شاکر غزل خپل مناسب او مطلوب کردار ضرور ادا کړے شي. او زما په نظر کښې دا يو لوے کنټري بيوشن او کرېډټ دے.

**د احترام په اساس**

**جاوېد احساس**

**اکرم خان دراني کالج بنو**

**۲۵ دسمبر ۲۰۱۷ء**

# ځلک

ځلک د تخلیق هغه نوخېز اظهار دے چې د بصیرت نه زیات په بصارت اډانه دے، د معصوم اخلاص تضادات یې کله کله د شاعرانه دانش د فني باریک بینۍ او نادره نکته خېزۍ په غېږ کښې خپلو خپاړو ته غاوره وي. زه په فني لحاظ سره د لسانیاتو د مشترک سائنس په ټولو ژبو د اطلاق قائل یم. د یوې چپې/ سېلاب د مختلف شکلونو د تلازم او د هغې د شاعرانه ساختیاتو پکارونې ته د فن ښکلا وایم. د علمِ قافیه من و عن اطلاق چې ځنګه د خپلې ژبې د امتیازي صوتي او بحري نظام په سبب که فرض کولے نۀ شو نو هم دا رنګ یې مستقل او مستمر استرداد هم روا نه شو ګڼلے. او اوس خو د معرئ، ازاد او نثري نظم ارتقا هم د دې موقف ادبي جواز نور مستحکم کړو.

وخت دا سې راغے چې ګلاب هم په پنجره کښې بند شو
دا ارتقـــاء ده چـــې شـــوې بنـــد د بوراګـــانو لارې!

ګـرم نـۀ یـم چې بـورا تـه زۀ د شـک پـه نظـر ګـورم
مـــا ولیـــدو د ګـــل پـــه رخســـارونو اذیـــت

د ارتقـاء پـه نـوم مـو ګټـه کـه تـاوان کـړے دے
زرګـي پـه غـرۀ کنبـې او کـونتري پـه بلـې نـه ښکاري

د ځلک د ادراک خپاړو ته د ارتقا علمي يون کنبې د

اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ ۚ یُغْشِی الَّیْلَ النَّهَارَ یَطْلُبُهٗ حَثِیْثًا ۙ وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ مُسَخَّرٰتٍۭ بِاَمْرِهٖ ؕ اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ ؕ تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ (۷:۵۴)

اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ یُدَبِّرُ الْاَمْرَ ؕ مَا مِنْ شَفِیْعٍ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اِذْنِهٖ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ (۱۰:۳)

وَ هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ وَّكَانَ عَرْشُهٗ عَلَی الْمَآءِ لِیَبْلُوَكُمْ اَیُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ وَلَئِنْ قُلْتَ اِنَّكُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ مِنْۢ بَعْدِ الْمَوْتِ لَیَقُوْلَنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْۤا اِنْ هٰذَاۤ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِیْنٌ (۱۱:۷)

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَا فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ ؕ مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا شَفِیْعٍ ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ (۳۲:۴)

وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَا فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ۖۗ وَّمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ (۵۰:۳۸)

او ابن مسکویه نه تر مولوي رومي بلخي او بيا د ډارون نه تر "سوشل ډارونزم" پړاوونه ټول په سر پراته دي. بل دې لړ کنبې د

شعوري او غېر شعوري عمل مېدانونه هم جدا جدا دي. د انساني تعامل سره يې اختيار کښې هم د تفاوت مدوجزر رنګا رنګ دے. هن دا يو حقيقت دے چې د انساني اختيار ترحده په کښې د پرمختګ په نوم تخريبي عناصر د تعميري عناصرو نه زيات ځرګند دي. د تهذيبي شتمنۍ په څنګ کښې د انسان او انسانيت د هلاکت تاريخ هم ډېر وېر دے.

د وخت د نقادانو نفسيات راته معلوم دي
خو نۀ کوم شاکره په لفظونو اذيت!

په لفظونو د اذيت تاريخ کښې د نقادانو نه د شاعرانو لاسونه زيات ګَکړ دي. د سائل صيب د ډکشن مثال په کښې څومره ځرګند دے!! تنقيد ته اوس د تخليق سره د تقابل په واسطه رسد او بيا د تخليق نه کمتر يا موخر ګڼلو واله رويه اوس ډېره زړه شوې ده. شاعري د جمالياتي جهان يو معتبر اظهار دے، چې ښائست يې اضافي نه بلکه مستقل حېثيت لري. بل شاعري خو نوم په لفظونو د اذيت دے، نو که دا اذيت (مخصوص) نۀ وي نو شاعري به معدوم وي. او دا رنګ به بيا په نقاد د شاعر تفضيل نه ثابتېږي. اصلاً د ځلک شاعر د نقاد نه خپله يره او خدشه په يو داسې رويه کښې د پټولو هڅه کړې ده چې په ټول متن کښې يې

هېڅ ګواهي نشته. د متني ګواهۍ او عملي استدلال په بنياد دا دعوئ پښتو کښې يو غني خان ترسره کړې ده.

د انســـان د تجســـس نـــه معلـــومېږي
چــې ســپوږمۍ تــه هــم د وينــې ضــرورت دے!

په خلک کښې د فرد په توګه دا شعر ډېر د اوچت معيار دے، "انساني تجسس، وينه، سپوږمۍ او ضرورت " د شاعرانه جهان هغه توري دي چې ژوند پرې اباد هم دے او ښاد هم، تجسس د حسن په ارفع صورتونو کښې شمېر دے، وينه د انساني سرشت د ترسيل يو ځانګړې وسيله ده، د بقا د قيام مستقله ذريعه ده او خپله ژبه، خپل قوانين او خپل مظاهر لري، د مينې محبت او شدت يوه زوره وره استعاره بلکې نامه ده، سپوږمۍ تمامي کاينات کښې د ښائست يوه ژوندۍ، متحرکه او خبرلوڅه ښنانه ده، دا رنګ ضرورت د انسان د بې بسۍ او محتاجۍ پېلامه ده، د افراد په اقليم کښې د دې تورو غنا او استغنا لاثاني ده. د خلک شاعر کمال دا کړے دے چې دې تورو له يې يو داسې رغونه ورکړې ده چې د عالمي استعمار د تخريب په مخ هم توده څپېړه ده، او په علاقايي سطحه هم د پښتنو د برېن واش د منطقي نتيجې نه د رسا خبردارۍ ادراک دے.

- ۱.. که وینه د تشدُد په معنیٰ محمول کړو نو د یویشتمې پېړۍ په مترقي او مهذب انسان یو معني خېز طنز دے.
- ۲.. انساني تجسس که په یاده معنیٰ کښې پکاروو او د مظاهرِ کائنات سره همکلامي نه پس د څۀ ادراک تهې راسپړو نو د مېنې د ضرورت پخلے ترې ثابتیږي.
- ۳.. سپوږمۍ چې په تمامي انساني ذات کښې د تانیث اشاره کړو او انسان ته د تذکیر تخصیص وکړو او بیا تجسس یې اشتراکي رویه او نفسیات وبولو وینه د مېنې استعاره کړو نو بیا به ترې دا معنیٰ کشید شي چې داخلي الهام د مینې دلالت تر دې ځاے راوړي چې د ضرورت په مقام یې ایږدي. چې له دې بغېر ژوند قیام نۀ مومي.
- ۴.. د انسان او د کائناتي مظاهرو تر مینځه د عواطفو د تړون او نسبت څرګونه په کښې په اتڼ دي.
- ۵.. انسان د کائناتِ اصغر او تمامي خارج په منزله د کائنات اکبر قیاس کوو نو دا شعر راته د داخلي ډومبن نه د روح عصر د پېژنګلو لارې پرانیزي.
- ۶.. سپوږمۍ که د مونث محبوبې لپاره مختص کړو او بیا دویمه مصرعه کښې په "هم" زور واچوو او وینه د شدید مینې

علامت کړو نو دا معنیٰ به تري راووځي چې ښځه ذات د مینې محتاجه ده. هم دې صورت کې که وینه د شدت او تشدُد علامت کړو نو بیا په شعر کې د سړي او ښځې په تعلق کښې په سړي یو ناشنا طنز ثابتېږي او په رواجي معنو کښې د فېمنزم یو ښکلے تعبیر ترې سرکېږي چې ګوندې سړي باید کړي دي چې وایلنس هم د دې ښځې ضرورت دے!!

**سمیع الدین ارمان**

**اېډورډزکالج پېښور**

**۱۷ جنوري ۲۰۱۸ء**

# اعتراف

- **(1)** زۀ کتاب ولې چاپ کوم؟
- **(2)** ایا زما دپاره د کتاب چاپ کولو هم دا مناسب وخت دے؟
- **(3)** او که کتاب چاپ نۀ کړم نو څۀ چل به وشي؟

دا او دا قسمه نور ډېرو سوالونو زما په ذهن کښې د کتاب د چاپ کولو د ارادې سره سم سر را اوچت کړے دے.

خو ..................

- **(1)** کتاب ځکه چاپ کوم چې زما د شعر مينه وال يې رانه اکثر غوښتنه کوي. او زما شاعري ما سره د هغوي امانت ده.
- **(2)** زما په خيال مناسب وخت يې ځکه دے چې ما ۱۹۹۹ء نه باقاعده شاعري شروع کړې ده او اوس يې نولس کاله برابر شو. د کتاب متعلق زما خپل نظر دا دے چې نۀ خو په کښې ډېره بيړه پکار ده او نۀ زيات تاخير.
- **(3)** نو په دې صورت کښې به زما دا موجوده شاعري هم له مينځه لاړه شي ولې چې کتاب دپاره د شعر د انتخاب په وخت مې کافي شاعري ضائع کړې ده.

نو د دې انديښنې پېش نظر مې خپله منتخب شاعري راټوله کړه او دا دے اوس يې تاسو په وړاندې ږدمه خو يوه خبره شته چې زۀ د پښتو شاعرۍ د موجوده معيار او ترېنډ نه هم خبر يم او د پښتو

کتاب د مارکیټ نه هم لاعلمه نۀ یم او هم په دې اساس د خپلې شاعرۍ په اړه د کومې خوش فهمۍ یا غلط فهمۍ ښکار بالکل نۀ یم. بلکې ښۀ په غړېدلو سترګو خپله شاعري تاسو ته د کتاب په صورت کښې وړاندې کوم. که خوښه مو شوه نو ډېره ښه ده کور مو ودان او که نۀ مو شوه خوښه نو هم په تاسو څۀ ملامت نشته. البته تاسو تنقیدي رایو او اصلاحي مشورو ته به په درنه سترګه ګورم. یو بله خبره چې تاسو سره یې شریک کول غواړم هغه دا چې ما خپلې شاعرۍ سره څۀ خیانت نۀ دے کړے چې څۀ مې محسوس کړي دي هغه مې د خپل وس مطابق د شعر په شکل کښې په خپل انداز کښې د خوندي کولو کوشش کړے دے. د مېک اپ او د فېشن مې هېڅ کله او په هېڅ صورت شعوري هڅه نۀ ده کړې.

دلته د هغه هستیو ذکر کول به بې ځایه نۀ وي چې زما په کردار سازي کښې یې څۀ نه څۀ لاس لرلے دے او یا یې زما سره د ژوند په دې سفر کښې په څۀ نه څۀ شکل مرسته ملګرتیا کړې ده.

د ټولو نه اول د خپلې خدائے بخښلې مور ذکر ضروري ګڼم چې د هغې د مینې، شفقت او نرم مزاجي زما په شخصیت لوے اثر دے او د هغې په دعاګانو زۀ د دې جوګه شوم چې د پښتو په صاحب کتاب شاعرانو کښې شامل شوم. د خپل پلار هم بې انتها احسان مند یم چې په داسې وخت او ماحول کښې یې ما ته قلم او کتاب په لاس کښې راکړو چې نورو پلارانو به بچو ته د ټوپک او کوتک بندوبست کولو او زۀ د خپل باباجي په دې هم شکر ګزار یم چې زما ادبي جنون ورته عبث ښکاري خو بیا یې هم زما لاره نۀ ده نیولې. د

خپلو مشرانو ورونو کریم ګل او فضل واحد هم مننه کوم چې زما په تعلیمي کیرئیر کښې یې ما سره په هره موقعه مرسته کړې ده. د خپلو خوېندو هم مننه کوم چې تل یې راته د بې غرضه مینې خوارۀ رابخښلي دي او په دعاګانو کښې مې یاد ساتي. د خپل ترۀ زوي ماسټر محمد صدیق هم شکر ګزار یم چې په هر مشکل کښې یې ما سره د خپل وس نه سیوا مرسته ملګرتیا کړې ده او زما دپاره د لارې مشال دے. د خپلې کور ودانې هم مننه کوم چې د ژوند په هر مشکل پړاو راسره په نره ولاړه وي. او د خپلو بچو محمد اکرم خلیل، محمد عباس خلیل، عظمیٰ خلیل او د ابشمه خلیل ذکر هم ضروري ګڼم چې زما شعر و شاعرۍ ته خوشحالېږي. او زما د ادبي دنیا اکثر ملګري نۀ صرف پېژني بلکې ښۀ پرې هم لګي.

د کوهاټ د ټولو شاعرانو او مینه والو هم منت بار یم چې تل یې نازولے یم او د مخکښې تلو حوصله یې راکړې ده. د ساهو لیکونکي کوهاټ او د اورکزي ادبي قافله ذکر خېر هم په ځان پور ګڼم چې زما د دپاره د مکتب حېثیت لري.

د ټولې پښتونخوا د هغه ټولو شاعرانو ادیبانو مننه هم کوم چې په څۀ نه څۀ شکل کښې یې زما راهنمایي کړې ده. د هغه ټولو استاذانو هم بې توله مننه وي یم چې د اول ټولګي نه تر پي ایچ ډي یې زما لار ښودنه کړې ده.د علم و هنر د لارې ټولو همسفر ملګرو هم بې توله مننه کوم چې د تل یې راسره پښتو پاللې ده.

د خپل ګران استاذ پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر صېب د پښتنې مینې او شفقت د مننې دپاره راسره مناسب توري نشته.ښاد ژوند

ورته غواړم. د ګران قېصر اپرېدي صېب بې تو‌له مینه به مې تل یاد وي چې د کتاب په اړه یې وړې نه وړې نقطې ته هم زما پام راګرځولے دے او په خپل قیمتي لیک یې هم ولمانځلم. د ملګري پروفېسر جاوېد احساس صېب هم مننه کوم چې تل یې زما حوصله افزایي کړې ده او په کتاب یې تفصیلي لیک هم کړے دے. د پروفېسر سمیع الدین ارمان صېب د مینې هم پوره وړے یم چې د انتهائي ناوزګارتیا باوجود یې په روڼ تندي زما په کتاب لیک وکړو. د مشهور مصور لیاقت علي خان صېب بې انتها مننه کوم چې په خپلو ګوتو یې زما د کتاب ټائټل ساز کړو. او د مخپاڼې د ډیزائنګ دپاره د حیات روغاني صېب هم بې حسابه مننه کوم. د ښاغلي اعجاز خټک صېب مینه او اخلاص هم د یادولو وړ دے. د ډاکټر وزیر شادان صېب هم شکرګزار یم چې نۀ صرف خپل نظر یې راسره شریک کړو بلکې پروف ریډنګ یې هم وکړو. د اروابناد قیوم مروت، رحمت شاه رحمت، سعادت سحر، سعید رهبر، عدنان بخاري، فېروز خان صادق، صادق سرګردان، عمر فاروق عادل او د شفیع الله شفیع مینه هم د هېرولو نۀ ده.

د پښتنو د روښانه سباؤن په هیله؛

**شاکر اورکزے**

**پي ایچ ډي سکالر (پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون)**

**۲۰ جنوري ۲۰۱۸ء**

## حمد

هم جمیل دے هم جمال دے
هم جلیل دے هم جلال دے

چې زما د زړهٔ قرار دے
هغه صاحبِ کمال دے

تغیّر نه مبرّا دے
په هر حال کښې په یو حال دے

چې خالق د کائنات دے
لایزال دے لازوال دے

چې د حسن سرچینه ده
محبت کښې بې مثال دے

***

## نعت

ستا د شفقت د باغ وږمې چې را خوَرېږي په ما
دومره پوهېږم سکينه ده را وربېږي په ما

ستا تورو زلفو د سپين مخ په برکت جانانه
د کائنات د ورځو شپو راز افشا کېږي په ما

په تا ايمان لرم خو ستا په لاره ګام نۀ اخلم
دا ستا کرم دے چې اسمان نۀ را ماتېږي په ما

اے رحمة للعالمينه په دې تول جهان کښې
داسې څوک نشته چې ذره يې زړۀ خوږېږي په ما

دا يو ارمان دے د اعزاز نه يې کم نۀ ګڼمه
چې ستا د ښار دوړې ګردونه را غورځېږي په ما

***

زۀ خــو تنــګ شــوم د خپــل زړۀ لــه احتســابه بې حســابه
خوبــه راشــه زر کــړه زر کــړه شــابه شــابه بــې حســابه

دا حــرم د ے دلتــه هــر څــوک ورتلــے نۀ شي ځـان خبـر کـه
دا جنــت نــۀ د ے چــې ورشــې بــې کتابــه بــې حســابه

زۀ ازاد یــم تــۀ غــلام یــې خــوش فهمــي ده نــا پــوهي ده
دواړه اوســو پــه یــو ښــار کښــې ښــۀ بې اٰبــه بې حســابه

چرته مینه په یو حد کښې په پرده کښې په حساب کښې
چرته مینه سرِعامه بې نقابه بې حسابه

زندګي ده چې تېرېږي بې رونقه بې نمکه
بې سکونه بې خماره بې اسبابه بې حسابه

د پښتون اولس تاریخ یم خپلو هېر کړم پردو رد کړم
بې جوازه بهر شوے له نصابه بې حسابه

موده پس سهي شاکره خو ولاړ دے تیتې سترګې
بې دلیله بې منطقه بې ځوابه بې حسابه

***

زما د زړهٔ په پېښور کښې چې چاودنه کېږي
څهٔ ضرورت دے چې په تشه خولهٔ غندنه کېږي

د دې وطن د مظلومانو اٰه بې ځایه نهٔ ځي
وخت به راځي چې د دې هر څهٔ به پوښتنه کېږي

تحقیق ونهٔ کړي د اخبار په خبر وکړي باور
زمونږه خلکو نه اکثر دا تېروَتنه کېږي

نن سبا زهٔ د انسانانو په ځنګل کښې اوسم
په نهٔ خبره دلته هره ورځ وژنه کېږي

که د خپل کور د ابادۍ سره مخلص وي خلک
زړو رشتو ته به له سره بیا کتنه کېږي

شاکره! تهٔ د خپل مقتول ارمان قصاص مه غواړه
دلته قانون دے چې قاتل ته به بخښنه کېږي

***

د نړۍ هر مذهب د هر قام احترام پکار دے
خو څوک چې لام کوي په هغو باندې لام پکار دے

د مصلحت د خاموشۍ تورې بلا خوړليه!
په دې به ونۀ شي څۀ غم خو د دې قام پکار دے

د پردې شا ته اختلاف خو څۀ معنیٰ نۀ لري
د هر جابر مخالفت خو سرِ عام پکار دے

د چا له مخه چې زۀ نُور اخلم رڼا اخلمه
هاغه سړي ته خو سحر ماښام سلام پکار دے

اوس خلک نۀ اوري زړې قصې زړې خبرې
شاکره! اوس خو نوے خيال نوے کلام پکار دے

۱۱ اکتوبر ۲۰۱۳ء

څنګه برداشت کړم د ارمان په ګرېوانونو اوښکې
د ژوبل احساساتو په مخونو اوښکې

د یو نرګس د وچو سترګو د نظر په خاطر
زۀ هر سحر راټولوم د ګلابونو اوښکې

د دې سرې د لېونۍ تندې احساس پکار دے
چې پاکوي په چاودو شونډو د جامونو اوښکې

دا پښـــتونخوا ده دلتـــه نشـــته ضـــرورت د بـــاران
دلتـــه ســـحر ماښـــام وربـــږي پـــه فصـــلونو اوښـــکې

د ستا د مـخ پينځـۀ سيندونه بـه خـدا ے وچ كـړي اخـر
چـــې كـــور تـــه وړې زمـــا د مـــخ د دريـــابونو اوښـــكې

تـاؤ بـه يـې كـم نـۀ شـي خـو مـا بـه لـه نظـره خـلاص كـړي
چـــې څڅومـــه ســـتا د يـــاد پـــه انګـــارونو اوښـــكې

دلتـــه د واورو پـــه ليـــدو پســـې ســـېل ګـــري راځـــي
دلتـــه چـــا وليـــدې د تـــورو تـــورو غرونـــو اوښـــكې

شـاكره ځكـه پـه دې بـاغ كښـې هـر يـو ګـل زخمـي دے
چـــې خرڅېـــدلې پـــه بـــازار كښـــې د زخمونـــو اوښـــكې

۱۱ نومبر ۲۰۱۲ء

د تنګ نظرۍ د نفرتونو د شکونو دوړې
ګله! پرتې دي په دې ښار کښې د وهمونو دوړې

دوي په ګلونو د شبنم څاڅکي زغملے نۀ شي
دوي په دې خوښ وي چې پرتې وي په ګلونو دوړې

زۀ به تر هاغه وخت د دې نظام غندنه کوم
چې وي تر څو پورې د ستورو په مخونو دوړې

هلته نایابې شي نسخې د محبت د مرض
چرته چې پرېوځي د ښائست په کتابونو دوړې

شاکره! خبر دے که مې څوک هم ملګرتیا نۀ کوي
جارو کوم به د دې خلکو له ذهنونو دوړې

۲۷ جون ۲۰۱۵ د شپې یوه بجه

زما احساس به درسره وي تر يو حده ياره
د تنهائۍ په دې ځنګل کښې نابلده ياره

زما شهيدې ارزوګانې په سرک پرتې دي
دومره څوک نشته چې يې يوسي تر مرقده ياره

زما د عمر مزې لنډ دې دا يو عمر غواړي
زما لاسونه چې رسېږي ستا تر قده ياره

لاسونه تش، جېبونه تش خو سينې ډکې لرو
يو بې پروا د حاسدانو له حسده ياره

دا سوال زاري؟ زما په ذات کښې ناست سړے نۀ مني
خو تا ته راشم تا ته وکړم خوشامده ياره

څه پسې ګرځي؟ د خپل ذات په کائنات کښې شاکر
څومره مزل دے؟ له جسده تر جسده ياره

دا یو جوهر دے چې په ښکلو کښې مې یاد ساتي
دا یو احساس دے چې مې ړنګ کور کښې اباد ساتي

باید چې عشق هم د تاریخ یو نوے باب کړي رقم
څو به زخمونه ځان ته نخښې د فرهاد ساتي

اشنا د وخت دي اداګانو ته دې خیال دے کنه
په شته بنیاد کښې مې هم څومره بې بنیاد ساتي

مونږه لا اوس هم په سینو کښې انګارونه ساتو
خلک هوښیار دي به لمنو کښې هم باد ساتي

د شور و شر د هنګامو په دې جهان کښې خدایه
داسې څوک هم شته په یو تا چې اعتقاد ساتي

زهٔ د ګلاب په تصور دومره یقین ساتمه
چې د ازغو په انجمن کښې به مې ښاد ساتي

شاکره! ژوند دې د شیشو سره د بے پام به کوې
هغه په تا لکه د خپل ځان اعتماد ساتي

**۱۹امئي ۲۰۱۶ء**

د سپرلي د هوا نيت چرته ښۀ نۀ دے
که زما او د ستا نيت چرته ښۀ نۀ دے

ويرہ موسم دے ورېمې نشته ورېم خور دے
په چمن کښې د چا نيت چرته ښۀ نۀ دے

کاني بوټي واړه بَوو او بلا ښکاري
د سپوږمۍ د رڼا نيت چرته ښۀ نۀ دے

د وحشت د ښو کشا اورم بورښېږم
د ماښام د سودا نيت چرته ښۀ نۀ دے

له مکانه له زمانه مې وباسي
د زړګي د درزا نيت چرته ښۀ نۀ دے

۲۸م مارچ ۲۰۱۵ء

چې روښانه مو ماضي ده خوش فهمي ده
حال ته ګورم بربادي ده خوش فهمي ده

عجیبه صورتِ حال دے نه پوهېږم
محرومي ده، تنهایي ده، خوش فهمي ده

د دنیا د زوره ورو په مونږ پام دے
دا زمونږ خوش نصیبي ده خوش فهمي ده

د بلبلو په چغار هم پابندي ده
که څوک وایي ازادي ده خوش فهمي ده

د خپل فکر په اسرا پایم شاکره!
اثاثه مې شاعري ده خوش فهمي ده

۱۹ اکتوبر ۲۰۱۴ء

ستا په سر مې سر په دار هم سلامت دے
بابا جانه! محبت دې غنيمت دے

د انسان د تجسس نه معلومېږي
چې سپوږمۍ ته هم د وينې ضرورت دے

دا منمه چې تمامه شپه اوده يم
خو د ګلو خسمانه هم عبادت دے

د نصاب په کتابونو کښې مشغول يم
رانه پاتې ستا د سترګو تلاوت دے

سخن فهمه مې خاموش په ښکنګ کښې ناست دے
نيمه شپه ده د شعرونو رياضت دے

۲ مئي ۲۰۱۲

چرته چې کَر د محبت نه کېږي ژوند نه کېږي
چرته چې نفي د نفرت نه کېږي ژوند نه کېږي

دلته د حسن د فطرت هر يو منظر شاهکار دے
خو احترام د ادميت نه کېږي ژوند نه کېږي

موسم څه داسې دے چې ټوله ورځ خمار کرشمه
خو چې د سترګو شرارت نه کېږي ژوند نه کېږي

دلته د بنګ بوټي د هر سړي په زړه کښې نال دے
لحاظ د ګل د نزاکت نه کېږي ژوند نه کېږي

" ځان چې په خپله بدل نه کړي خدا ے دې نه بدلوي "
شاکره! هر څه په قسمت نه کېږي ژوند نه کېږي

۱۲ جون ۲۰۱۳ء مندتي هائي سکول اورکزئ

ځوک چې په خپله خاوره ننګ نهٔ کوي څهٔ به کوي
د سر دښمن سره چې جنګ نهٔ کوي څهٔ به کوي

چې په هر لور د تربګنو لړې خورې وي اشنا
دا ائينه زړونه چې زنګ نهٔ کوي څهٔ به کوي

چې د رحمان په رحماني فکر روښانه نهٔ شي
بيا د خوشحال توره چې شرنګ نهٔ کوي څهٔ به کوي

د اغيار لاس مې تر ګرېوان پورې را ورسيدو
اوس مې چې هم وينه غورځنګ نهٔ کوي څهٔ به کوي

چې يوه لاره د روزګار هم ورته خلاصه نهٔ وي
هغه سړے چې کر د بنګ نهٔ کوي څهٔ به کوي

چې په رګ رګ کښې يې د وينې په ځاے ګرځي فرېب
ښه نو شاکر چې ترېنه ځنګ نهٔ کوي څهٔ به کوي

***

تـه چـې څـه وائـې دا رښـتيا دي خـو پرهېـز کومـه
نـن سـبا زهٔ د ځينـې خلکـو نـه ګرېـز کومـه

يـوه خبـره ده خـو فـرَق پـه کښـې دومـره دے چـې
تـهٔ ئـې پـه جنـګ کـوې اشـنا زهٔ ئـې پـه مېـز کومـه

راتـه يـې وې زهٔ د خنـدا پـه اهميـت پـوهېږم
راتـه يـې وې زهٔ تبسـم هـم معنـي خېـز کومـه

شـر مـې خـوښ نـهٔ دے خـو بيـا هـم د شـر پسـندو سـره
يـو نـيم حرکـت خـو زهٔ لـه قصـده شـر انګېـز کومـه

کـه انتقـام اخسـتے نـهٔ شـم خـون بهـا نـهٔ اخلـم
کـه نـور وس نـهٔ لـرم نفـرت خـو لـه خـونرېز کومـه

زمـا او سـتا يـاري شـاکره بلهـا ګرانـه ښـکاري
تـهٔ خـو شـاعر يـې زهٔ خويونـه د چنګېـز کومـه

***

د سیاست د نظریو جنګ دے
د مفاداتو د تیَرو جنګ دے

مېدان به څوک ګټي هېڅ پته نشته
چې د ړندو او د کڼو جنګ دے

بیا د فطرت په سینه اور بلېږي
بیا د تیراه په تورو غرو جنګ دے

ګله! د چا طرفداري به کوې؟
د زنځیرونو د بنګړو جنګ دے

په خپل وطن کښې خیمه زن یم اشنا
چې را پغاړه د پردو جنګ دے

شاکره! خیال ته د چا خیال نۀ درومي
بس د ردیف او قافیو جنګ دے

۱۵ اپریل ۲۰۱۴ء

کله سحر کله ماښام کېږي څوک غږ نهٔ کوي
زما د سر سودا مدام کېږي څوک غږ نهٔ کوي

هلته د غرهٔ د ځناورو هم پوښتنه کېږي
دلته د زمونږه قتلِ عام کېږي څوک غږ نهٔ کوي

هاغه کارونه چې په یو مذهب کښې نهٔ دي روا
هغه په نوم چې د اسلام کېږي څوک غږ نهٔ کوي

قیمت د تېلو چې سیوا شي هنګامه جوړه شي
زما د وینې چې نیلام کېږي څوک غږ نهٔ کوي

پړ هم پښتون مړ هم پښتون شاکره ! وجه څهٔ ده ؟
څومره ناسازې په دې قام کېږي څوک غږ نهٔ کوي

***

ستوري ولاړ دي او سپوږمۍ هم حرکت نهٔ کوي
د بې خوبۍ سره بلدې سترګې ست نهٔ کوي

په دې وطن د ابوجهل باچايي هم نهٔ ده
بيا ولې دلته څوک په زړونو حکومت نهٔ کوي

دا خو دنيا ده دلته غم او ښادۍ ورور او خور دي
اشنا ته وايه چې له ژوندە دې نفرت نهٔ کوي

د دهٔ سړي په ناپوهۍ باندې افسوس پکار دے
کتاب ته ګوري د مخونو تلاوت نهٔ کوي

دا خو يو تهٔ يې چې ماحول دې معطر ساتلے
ګلابه! دلته خو بېخي څوک سخاوت نهٔ کوي

زمونږ د کلي د ژوندون دغه معيار ته ګوره
زلمے به کار نهٔ کړي ماشوم به شرارت نهٔ کوي

شاکر خو هلته هم د ګلو په لباس کښې ګرځي
چرته چې څوک هم د ګلونو حمايت نهٔ کوي

۳۱م مئي ۲۰۱۵ء

چې راله سوې دې ستا اور اور رخسارونو سترګې
اوس نه يخېږي د زړا پــه بــارانونو ســترګې

ستا د کوڅې خاورې مې سترګو کښې پرتې دي اشنا
خوږې مې نۀ شوې په ګلاب ګلاب مخونو سترګې

دا مې يقين دے چې په دې غرونو به نۀ پرېوتې
خو کاش ! چې نشته د برېښنا د تندرونو سترګې

لېونۍ! اوس په اشارو کښې هم محتاطه وسه
تهٔ به يې نهٔ منې خو شته د ديوالونو سترګې

که د سر سترګې رانه وباسي دښمن د رڼا
بيا به هم تګ کوو چې مونږ لرو د زړونو سترګې

د دومره جبر باوجود چې هم ونهٔ غړېدې
شايد چې خلاصې شي د ګل په ګوزارونو سترګې

شاکره! حسن، محبت او د رڼا په خاطر
ما کشيد کړې دي د ژوند په کتابونو سترګې

۱ جون ۲۰۱۳ ء کوهاټ

څۀ ښکلي دي چې راشي لانجې جوړې کړي بیا ورک شي
زمونږ سره شاکره ! رشتې جوړې کړي بیا ورک شي

تر هغې دلته ناست وي چې زمونږ کورونه وران کړي
چې ځان ته چرته بل ځای بنګلې جوړې کړي بیا ورک شي

زمونږ د چم سپرلي لکه د ښار د نقاشانو
د ذهن په دیوال مو نقشې جوړې کړي بیا ورک شي

دا ځینې ځینې خلک د عادت نه ډېر مجبور وي
په زړونو کښې اشنا فاصلې جوړې کړي بیا ورک شي

شاکره ! په جهنډو او په نعرو پسې به نۀ ځې
مونږ ولیدل دا خلک فتنې جوړې کړي بیا ورک شي

۲۴ جولائي ۲۰۱۳ء

په لاره ځي او تسبيحات هم کوي
خو په ليمو کښې واردات هم کوي

زړهٔ مې ورکړے رانه سر هم غواړي
اوس مې قبضه په شاملات هم کوي

د فرښتې په شان معصومه ښکاري
خو عادتونه د جنات هم کوي

عجيبه کار دے زړهٔ يې هم نهٔ مني
خو تقاضا د ملاقات هم کوي

مونږه يې ټول عمر لحاظ کړے دے
لږ دې په مونږه التفات هم کوي

شاکره! تهٔ خو ادم زاد يې منه
هغه شکوه له کائنات هم کوي

۱جنوري ۲۰۱۵ء

په سزا د زولنو نهٔ لرې کېږي
ليونتوب د ليونو نهٔ لرې کېږي

زما وينه ورله يوسه چې صفا شي
د زړهٔ زنګ دې په اوبو نهٔ لرې کېږي

په خندا يې استقبال کوه زړګيه
د يار غم په ژړېدو نهٔ لرې کېږي

زهٔ هم نهٔ ځم ستا له دره لکه غلوزې*
له ګبينو په ويشتو نهٔ لرې کېږي

له سپوږمۍ ورته رڼا راوړه شاکره !
دا تيَرې خو په ډيوو نهٔ لرې کېږي

---

* د شاتو مچۍ

دلته د خوبانو نظرونه هم سلام کوي
پام کوه دې غرونو ته ګلونه هم سلام کوي

ګرم نۀ یم که زړۀ مې په تالي کښې ورته کېښودو
دغو اننګو ته ګلابونه هم سلام کوي

دا د زړۀ له درده تر لیمو را رسیدلې دے
ومنه دې څاڅکي ته سیندونه هم سلام کوي

هار، د چینې غاړه، د غوزونه، انتظار او لار
څار شم دې منظر ته جنتونه هم سلام کوي

حېف نۀ دے غزل که د شاکر شو سلامي ساقي
تا ته د جامونو خُمارونه هم سلام کوي

۸ دسمبر ۲۰۱۳ء

د ګلونـــو د رېبلـــو کـــار مـــې نــــۀ زده
زۀ مالیـار یـم د ګـل چـین روزګـار مـې نـۀ زده

تــا کــه نــۀ زده نــو د ګــل ګــوزار دې نــۀ زده
مـا کـه نـۀ زده نـو د سـنګ ګـوزار مـې نـۀ زده

تــــول خویونــــه شـــاهیني لــــرم یـــارانو
خــو د زرکــو د کــونترو ښــکار مــې نــۀ زده

پـه سـینه کښـې مـې د مینـې سـمندر دے
خـو پـه خولـۀ د محبـت اظهـار مـې نـۀ زده

کــه هــر څــو یــې دردولــے یــم شــاکره !
دعاګــــانې ورلېــــږم ازار مــــې نــــۀ زده

***

د ژوند د پسرلي د سرو ګلونو قاتلان دي
دا خلک د فطرت د موسمونو قاتلان دي

دا څوک چې په دنیا کښې د تهذیب دعوېداران دي
په اصل کښې هم دا د تهذیبونو قاتلان دي

د چا دپاره مونږ چې خپل سرونه نذرانه کړل
هم هغه مو د مینې د قدرونو قاتلان دي

یو درد دے ، یو احساس دے ، تنهائي ده ، انتظار دے
دا ټول مې په شریکه د خوبونو قاتلان دي

شاکره ! یو خو نهٔ دے چې نامه یې درته واخلم
اکثر ښکلي زمونږ د ارمانونو قاتلان دي

۲ اګست ۲۰۱۲ ځنګل خېل کوهاټ

ستا د سرو لپو له شکوره لوګي خېژي
که نۀ چرته له تنوره* لوګي خېژي

د غريب له اه و شوره لوګي خېژي
د زردار له ډېره زوره لوګي خېژي

دا وطن به خامخا د پښتنو وي
مازديګر دے له هر کوره لوګي خېژي

بيا دې وينه ده د کوم سړي کوټلې
بيا دې خولې نه سړي خوره لوګي خېژي

په جنت وطن مې څۀ وشول شاکره !
چې هر بوټي نه بې اوره لوګي خېژي

۲۵ فروري ۲۰۱۲ ء کوهاټ

* شکور او تنور زمونږ په لهجه کښې هم قافيه توري دي.

لګیا یو مسلسل زغمو په زړونو اذیت
د درد د کیفیت او د غمونو اذیت

جانانه ! د فطرت د ښکلاګانو سرچینې دي
نو څهٔ رنګه برداشت کړم په دې غرونو اذیت

ګرم نهٔ یم چې بورا ته زهٔ د شک په نظر ګورم
ما ولیدو د ګل په رخسارونو اذیت

زمونږ د کلي ښکلي د ستائیلو مستحق دي
چې نهٔ کوي بې ځایه په مخونو اذیت

څهٔ وشو؟ ورځ په ورځ د سړیتوب معیار پرېوځي
د نفس دپاره کېږي په روحونو اذیت

د وخت د نقادانو نفسیات راته معلوم دي
خو نهٔ کوم شاکره په لفظونو اذیت

۲۵ اګست ۲۰۱۳ء

لا پورې شته په دې وطن د وحشتونو اثر
لا پورې ښکاري په مخونو د وهمونو اثر

زما خبرې د کمرو نه چینې وباسي
ډېر تعجب نهٔ دے چې نهٔ کوي په زړونو اثر

زما اهونو پورې مه خانده لمبې به واخلې
په کوهاټ کېږي د تیراه د موسمونو اثر

اوس دې په سترګو کښې د مینې هغه ځلک نهٔ ښکاري
په تا هم وشو د بې کېفه محفلونو اثر

زهٔ د الفت د شاتو سیند کښې لمبیدلے شاکر
په ما به څهٔ وشي د چا د نفرتونو اثر

۲۰ ستمبر ۲۰۱۳ء

ما پـه هغـو هـم زده کـړې ګـل کـاري ده
چې د چا پـه طبيعـت کښـې سـنګ بـاري ده

د احسـاس د لائبريـرۍ ور راتـه خـلاص کـړه
خـالي شـوې مـې د فکـر المـاري ده

ښـه خـالي سـينه راځـه دلتـه ملنګـه
سـودا نشـته پـه دې ښـار کښـې شـوکماري ده

کائنـات چـې چـا د پـاره مسـخر دے
هغـه چـا ژونـد سـره کـړې غـداري ده

د مېـو شـاخ تراشـي د سـتا هنـر دے
زمـا خوښـه د ګلونـو ابيـاري ده

تـهٔ پـه کـوم وطـن کښـې ژونـد کـوې شـاکره
چـې لهجـه دې هـم خـوږه هـم معيـاري ده

***

ناست یو سره د سیند په غاړه په سوچونو کښې ورک
خمار خمار دے د ښائست په منظرونو کښې ورک

زمونږ د دواړو یو کیدل دي له امکانه لرې
زۀ یم په زمکه او هغه په اسمانونو کښې ورک

هغه به ښار کښې د خپل ځان شناخت څنګه کوي
چا نه چې زړۀ او نظر دواړه وي په غرونو کښې ورک

هغــه ګـــلاب چـــې ؤ د تـــورو خـــورو زلفـــو زينـــت
هغـه ګـلاب شـو رانـه اوس پـه کتـابونو کښــې ورک

د وطـــن ښـــکلو بـــه يـــې هـــم کړلـــه ثنـــا د حســـن
هغـه تصـوير شـو د وختونـو پـه ګردونـو کښــې ورک

لېـــونی! دا کائنـــات دومـــره وســـعت چرتـــه لـــري
زۀ لېـونے يـم د خپـل زړۀ پـه وسـعتونو کښــې ورک

يـــواځې تـــۀ نـــۀ يـــې شـــاکره! د ښـــکلا پـــه لټـــون
يـاران دې هـم دي د فطـرت پـه ښائسـتونو کښــې ورک

۱۵ اګست ۲۰۱۳ء

زما په برخه دي اشنا د بارانونو اوبه
لکه مارغه څښمه د غره د تالابونو اوبه

چرته يې راشه بيا راپېښ شو ضرورت د تکور
بيا پسرلے شو بيا مې وکړې پرهرونو اوبه

ته به ګيله کوې منم چې لاس مې در نه کړلو
خو پټې کړي دي اشنا زما لاسونو اوبه

وايم په واړه کائنات کښې بختور يمه زه
ساقي ! چې څښمه ستا د لپو په جامونو اوبه

شاکره! څکه مونږ سرونه بې نشې ګرځوو
چې جينکۍ راوړي ګودر نه په سرونو اوبه

***

چــــا راتـــــه بنـــدي کــــړې د نمـــــر د رڼاګــــانو لارې
چــــــا رانـــــــه ونيــــــوې د نرمـــــــو هواګـــــــانو لارې

تاســـو د شـــــته انســـــان نـــــه هـــــم لاره غلطـــــه کړلــــه
مــــونږه پيـــــدا کړلــــــې د ورکــــــو انســـــانانو لارې

وخت داسې راغــې چې ګلاب هم په پنجره کښې بند شو
دا ارتقـــــا ده؟ چـــــې شــــوې بنـــــد د بوراګـــــانو لارې

زمـــــونږ ذهنونـــــه معطـــــر دي د خپـــــل خيـــــال پـــــه وږمـــــو
دوي دې نيــــــولې ســــــاتي تـــــــل د خوشـــــبويانو لارې

د نظرونــــــــو يرغـــــــل ګـــــــر دې بـــــې خطـــــــره راځـــــې
خلاصـــــې مــــــو پرېښــــــې دي د زړهٔ د قلاګـــــانو لارې

شـــاکره ! مــــونږ د بـــدرنګۍ پــــه لاره تـــګ نـــهٔ کـــوو
مـــــونږ خپلـــــې کـــــړې دي د ژونـــــد د ښـــــکلاګانو لارې

۲۰ مارچ ۲۰۱۳ ء کوهاټ

د خلکــو ذهنیــت او رویــې بــدلول غــواړي
جانانــه ! دا بــاطلې عقیــدې بــدلول غــواړي

دا لاره د ځنګــل پــه وحشــتونو تمــامېږي
رهبــره ! دغــه رُخ د قــافلې بــدلول غــواړي

انســانه ! د دنیــا پــه مــخ د امــن لــه خــاطره
د جنګ د تعصب دا سیپارې بدلول غواړي

د کور ښائست د ښار په قصابانو ذبح کېږي
دا لاره د معــاش د زمــانې بــدلول غــواړي

منم چې معتبر دے خو چې زۀ پرې نۀ پوهېږم
شاکره ! دا نصاب د مدرسې بدلول غواړي

***

ستا ګل غونډې ځواني چې په ورمو سره رژېږي
حېران يم چې ازغو سره دې وخت څنګه تېرېږي

د ښار پېغله خو نه ده چې بېباکه ده صاحبه!
د غرونو شهزادګۍ ده حياناکه ده شرمېږي

واعظه ! په تقدير مې پوخ ايمان دے مسلمان يم
خو ډېر کارهٔ کارونه په تدبير سره سمېږي

تر څو چې په دې خاوره د خوشحال فکر ژوندے وي
تر هغې به مغل په محلونو کښې رپېږي

دا کلې خومره خوار دے او دا خلک خومره خوار دي
شاکر غونډې سړے هم په دې کلي کښې وسېږي

۲۴ اګست ۲۰۱۰ء

زما د غزل توري او د ستا د سترګو توري
په دواړو کښې څهٔ شته چې خلک ځير ځير ورته ګوري

زمونږه په محلت کښې چې مابنام شي ورونه بند شي
او ستاسو په دې چم کښې تر ناوخته خلک شوري

د ستا د خيال په دشتو باران نهٔ ووري سوکړه ده
زما د زړهٔ په غرونو خو لا اوس هم واورې ووري

زما د انتظار انداز د هر چا نه بدل دے
سپوږمۍ سره لګيا نهٔ يم او نهٔ شمارمه ستوري

شاکره! هلته اوس هم د وحشت تيرې خورې دي
د خدا ے خاطر دې وکړي لا دې نهٔ ځي په دې لوري

۲۹ جنوري ۲۰۱۴ء

د نــوي دور تقاضــې هــم پــه نظــر کښــې ســاته
د محبــت زړې رشــتې هــم پــه نظــر کښــې ســاته

د خپـل محلت دې ګنګوسو تـه هم لږ غـوږ ونیسـه
د غرۀ نه شا تـه سرې لمبې هـم پـه نظر کښې ساته

د خپل ارمـان د شېش محل نه هم بې فکـره نۀ شې
د بـل د زړۀ مـاتې ټـوټې هـم پـه نظـر کښـې سـاته

د خپـل یقـین پـه وسـعتونو کښـې لـه ځانـه ورکـه
د ګمــانونو دائــرې هــم پــه نظــر کښــې ســاته

شــاکره! تــا ده غــوره کــړې ځــان تــه لاره جــدا
خو د هم عصرو منصوبې هم پـه نظر کښې ساته

۲۲ فروري ۲۰۱۵ء

دنیا بدله شوه خو ما نهٔ کړه بدله لاره
د لېوني غوندې روان یمه په خپله لاره

اوس که راځې نو بلاګانې به دې نهٔ وېروي
ما سازه کړې ده له ښاره تر ځنګله لاره

د چا دعا وه چې د ستورو هم نشین یې کړمه
ګني حالاتو مې له پښو ځنې رانښکله لاره

په ما د ړوند تقلید کونکي وس ونهٔ رسیدو
د خدائے په فضل مې د عقل وموندله لاره

هغه چې تا سره اوږه په اوږه تللے نهٔ شو
شاکره! خود به یې له تا نه بېلوله لاره

۲ اګست ۲۰۱۴

زېړ مازدیګر، د اوبو غاړه او ګلاب شاعري
وږمې خورېږي اوروي راته جناب شاعري

د کائنات ښکلا ښائستونه په یو ځای پنډ شوي
سپرلے، سپوږمۍ، شباب، رباب او انتخاب شاعري

که په مقدار وي نو پښتو بس مالا مال وګڼه
که په معیار وي نو بیا کېږي په حساب شاعري

زۀ مراعات نۀ غواړم زۀ قصیدې نۀ لیکمه
زما نه نۀ کېږي ګلابه په دې باب شاعري

زما د زړۀ د ارمانونو نتیجه ـــــ محرومي
زما د ژوبل احساساتو احتساب ـــ شاعري

زما غوږونو زما سترګو ته تسکین را بخښي
یو بې مثاله حسن بله لا جواب شاعري

۲۲ اکتوبر ۲۰۱۴ء

لکه د حسن په بازار کښې نیلام شوے نهٔ یم
د محبت غونډې کم کم یمه عام شوے نهٔ یم

ستا د نظر په زاویه کښې شاید فرق راغلے
زهٔ خو لا هغسې خالص یمه خام شوے نهٔ یم

دغه زما د محبت نوے انداز به منې
مینه په جار کومه بیا هم بدنام شوے نهٔ یم

د موراو پلار په دعاګانو منور ګرځمه
زهٔ لا تر اوسه په خپل ژوند کښې ناکام شوے نهٔ یم

شاکره! زهٔ ضروتونه د ژوند پېژنمه
شکر دے زهٔ د خواهشاتو غلام شوے نهٔ یم

۲۵ فروري ۲۰۱۵ء

ښـــهٔ خبـــر د ے چـــې دا خپـــل کـــور مـــې بربـــاد د ے
خـــو بیـــا هـــم د خپـــل بـــادار پـــه ښـــادۍ ښـــاد د ے

هغـه ځـوک هـم تـا معـاف کـړ ے نـهٔ د ے خـوار شـې
چـــې ســـاتونکے ســـتا د شـــین اســـلام ابـــاد د ے

دلتـــه ځـــوک دي چـــې مـــې زړهٔ پـــرې اوبـــهٔ وځښـــي
اوریـــدلے دلتـــــه چـــــا زمـــــا فریـــــاد د ے

دا ســـړ ے پـــه غلامـــۍ کښـــې ځـــومره خـــوښ د ے
چـــــې د بنګـــــو کرونـــــدې لـــــره ازاد د ے

نـــن ســـبا د مســـتورې* پـــه غـــاړه پـــروت یـــم
نـــن ســـبا مـــــې د زړګـــــي جهـــــان ابـــــاد د ے

۲۰ اګست ۲۰۱۵ء

---

* مستوره هغه توئے (خوړ) ده چې ډبوري نه راځي او باړې سیند سره ګډېږي.

وخت د بدلون ؤ بندوبست د انقلاب ونۀ شو
مخ نیوے ځکه د سرو وینو د سیلاب ونۀ شو

په دې خوشحال یم چې مظلوم له تکلیفونو خلاص شو
په دې خفه یم چې ظالم سره حساب ونۀ شو

زۀ د باران غوندې په هر موسم کښې ووریدم
خو د جانان د زړۀ په للمه کښې ګلاب ونۀ شو

زما د تورې د ټوپک تذکرې هر ځاے کیږي
چرته مې ذکر د قلم او د کتاب ونۀ شو

زما د تن غوښې خیرات شوې هر چا وخوړلې
حیران په دې یمه چې بیا مې هم ثواب ونۀ شو

په دې ماحول کښې د جانان دغه ګیله عبث ده
چې په شاکر اثر د شونډو د شراب ونۀ شو

۱۳ دسمبر ۲۰۱۳

د ګل په پاڼو ستا نامه لیکم د زړهٔ په وینو
دا بې مثاله صحیفه لیکم د زړهٔ په وینو

چې هره کرښه یې زما د محبت تصویر وي
زهٔ یوه داسې افسانه لیکم د زړهٔ په وینو

داسې کور نهٔ وینم چې هلته به ژړانهٔ کېږي
زهٔ به په چا چا مرثیه لیکم د زړهٔ په وینو

د وخت جابر د شېش محل په دروازه ګلابه
ورځم د امن ترانه لیکم د زړهٔ په وینو

زما غزل په پرهر زړونو اثر ځکه کوي
شاکره! زهٔ هره مصرعه لیکم د زړهٔ په وینو

۲۵ نومبر ۲۰۱۱

که په چا ورانه ده په چا باندې ودانه هم ده
دا دنیاګۍ د خېر و شر په سر روانه هم ده

منم هاغه په خپل ښائست باندې غرور هم کوي
منه هاغه له خپل ښائسته پرېشانه هم ده

حېران یم دغه تعلق ته څۀ نامه ورکړمه
څوک چې مې یار ګڼي هغۀ راسره ورانه هم ده

ستا د بلها ډېرو سوالونو هم دا یو ځواب دے
دا زندګي که جانانه ده بې جانانه هم ده

څوک چې راکاږي د ګلونو په مخونو کرښې
دا زمانه په هغو خلکو مهربانه هم ده

ستا شاعري شاکره! درد لري، درمان هم لري
ستا شاعري د خپلې خاورې ترجمانه هم ده

۴ نومبر۲۰۱۵ء

د يوويشتمې صدۍ ځوان يمه بدل خو به يم
ته به هر څه يې زه انسان يمه بدل خو به يم

ته په جرګه کښې ناست يې لا به منصوبې جوړوې
زه قافلې سره روان يمه بدل خو به يم

ستا زندګي په مفکورو او مفروضو ولاړه
او زه منونکے د قرآن يمه بدل خو به يم

زما په تن کښې محبت لکه د وينې ګرځي
له نفرتونو ګريزان يمه بدل خو به يم

ځوک يې په حال خوشحال او ځوک يې د ماضي ارماني
زه يې راتلونکي ته پرېشان يمه بدل خو به يم

چې د پرځي په ځاے لاسونو* کښې ګلونه کري
شاکره! زه "هغه دهقان يمه" بدل خو به يم

* : پرځے: په کور، حجره يا پټي کښې واړۀ واړۀ ځايونه چې ګلونه او سبزي په کښې کرلے شي په اردو کښې ورته "کيارى" وائي.

ماښام دے ښکلي واړه کور ته ځي او زۀ ولاړ يم
احساس د تنهائۍ مې زړۀ سيزي او زۀ ولاړ يم

د ژوند په ځلور لاري کښې د ځان په تماشه يم
په هره لاره خلک ځي راځي او زۀ ولاړ يم

حېران يم چې زۀ څۀ له دې ګلشن ته يم راغلے
هر څوک د خپلې خوښې ګلاب وړي او زۀ ولاړ يم

دا صبر دے زړګيه که د صبر انتها ده
په خپل تيکري مې اوښکې پاکوي او زۀ ولاړ يم

شاکره ! لېونتوب زما د نورو په شان نۀ دے
پرېوځي په دې ځاے کښې لېوني او زۀ ولاړ يم

۲۴ نومبر ۲۰۱۳ء

زړونـــه بـــدل شـــولو د مینـــې ترجیحـــات بـــدل شـــول
چـــې د انســـان د ژوندانـــهٔ معـــاملات بـــدل شـــول

زمـا غـزل کښـې دې هغـه اوس فقـط ځـان نـهٔ وینـې
وخـت چـې بـدل شـو نـو زمـا هـم موضـوعات بـدل شـول

افسوس ! یاران په نیمه لار کښې په دې طمع ناست دي
مـونږ روانېـږو خـو کـه چرتـه کښـې حـالات بـدل شـول

تـا سـترګې پورتـه کـړې رڼـا پـه کائنـات خـوَره شـوه
تـهٔ چـې مسـکے شـوې د ښائسـت لوازمـات بـدل شـول

پـه غـم کښـې خانـدو پـه ښـادۍ کښـې ماتمونـه کـوو
لکـــه موســـم د زنـــدګۍ ټـــول روایـــات بـــدل شـــول

ســـتا د هجـرت شـاکره هېڅـا تـه احسـاس نـهٔ کېـږي
سـتا پـه هجـرت سـتا د همځـولـو احساسـات بـدل شـول

***

د حسن تماشې ته د چينې په سر ولاړ يم
شفق يم د اسمان د کنارې په سر ولاړ يم

اشنا که د ښائست د تاترې په سر ولاړ دے
نو زۀ هم د خپل فن د سمانې په سر ولاړ يم

هغه د خپل غرور له غره پربوتو پناه شو
زۀ اوس هم د الفت د ګل درې په سر ولاړ يم

پښتو ده ، تهمتونه دي ، مابنام دے ، هغه بام دے
ناکام دے چې لمبو ته د لمبې په سر ولاړ يم

د وخت نمرود خپل زور په ما تمام کړو خو شاکره !
خليل يمه د حق د منارې په سر ولاړ يم

***

تـــوره تيـــارۀ ده قـــدم اخلـــم د اســـمان پـــه ځلـــک
لاره اوړده ده خـــو ډاډه يـــم د ايمـــان پـــه ځلـــک

زۀ د خپـل خيـال پـه تـورو غرونـو کښـې يـواځې روان
کلـــه نـــه کلـــه ټپـــه وکـــړم د ارمـــان پـــه ځلـــک

ګلابـــه! تـــا خـــو بـــه تـــل نـــور حېرانـــوۀ پـــه ځلکـــا
حېران پـه دې يـم چې نـن ولې شـوې حېـران پـه ځلـک

کـــه انقـــلاب نـــۀ ؤ خـــو دا د بدليـــدو موقعـــه وه
افسـوس! چې دا خلـک بيـا هـم نـۀ شـو روان پـه ځلـک

چرتـــه محفـــوظ شـــي د ږلـــۍ نـــه د نفـــرت خارســـتان
او چرتـــه وســـوزي د مينـــې ګلســـتان پـــه ځلـــک

شـــاکره! تـــۀ بـــه دلتـــه خـــاورې زنـــدګي تېـــره کـــړې
دا پـــه تيـَــرو مئـــين اوس هـــم دي بـــدګمان پـــه ځلـــک

۲۲ اپرېل ۲۰۱۴ ء

مونږ د شملې او لوپټې د زړۀ نه قدر کوو
مونږ د بابا او د ادې د زړۀ نه قدر کوو

مونږه اسلام او پښتو خپلو کښې بېل نۀ ګڼو
مونږ د جمات او د حجرې د زړۀ نه قدر کوو

چې د خوش رنګو د بد رنګو هېڅ پروا نۀ کوي
ځکه خو مونږ د ائينې د زړۀ نه قدر کوو

په دې پوهېږو چې تۀ نۀ راځې خو بيا هم اشنا
ستا د دروغو د وعدې د زړۀ نه قدر کوو

مونږه د وينې رشتې هم ګله! په نره پالو
او هم د زړونو د رشتې د زړۀ نه قدر کوو

***

زمـــونږه لېونـــو لـــه چـــې يـــو كـــار وكـــړي ځـــوک شـــته
مابنـــام دے بندوبســـت چـــې د خمـــار وكـــړي ځـــوک شـــته

مـــــا تـــــول عمـــــر ګلونـــــه دي كرلـــــي او شـــــيندلي
پـــه مـــا بانـــدې دې هـــم د ګـــل ګـــوزار وكـــړي ځـــوک شـــته

چـــې ځـــوک د خپلـــې خـــاورې پـــه نـــوم مـــړهٔ دي او ګمنـــام دي
د داســـې شـــهيدانو چـــې لـــړ شـــمار وكـــړي ځـــوک شـــته

پـــه هـــر پـــل چـــې د زړهٔ د ماتېـــدو پـــه كښـــې خطـــر دے
چـــې مـــا ســـره ســـفر پـــه دغـــه لار وكـــړي ځـــوک شـــته

د جســـم د رنځونـــو دلتـــه هـــر ســـړے طبيـــب دے
عـــلاج چـــې د روحونـــو د بيمـــار وكـــړي ځـــوک شـــته

شـــاكره! د مرګونـــو اعلانونـــه دي چـــې اورو
شـــاكره! چـــې تپـــه او يكـــه زار وكـــړي ځـــوک شـــته

۵ ستمبر ۲۰۱۴ء مردان

پشـــکال دے، وچ کـــالي ده او کوهـــاټ دے
قيامـــت خپـــزه تـــاودوخي ده او کوهـــاټ دے

ورســـــره مـــــې پـــــه تـــــش لاس مقابلــــه ده
رمضـــان دے، جـــولائي ده او کوهـــاټ دے

خپـــل يـــاران مـــې د لســـتوني ښـــاماران شـــول
فريـــــب ژنـــــه زنـــــدګي ده او کوهـــــاټ دے

د انا په دیوالونو کښې محصور یم
تنهائي ده، محرومي ده او کوهاټ دے

د شملو خلک ولاړ دي په قطار کښې
بې وسي ده، بې حسي ده او کوهاټ دے

د خوبانو سپین مخونه په کښې تور شول
د حالاتو سره ګرمي ده او کوهاټ دے

بې له درده نور څه نۀ لرم شاکره!
بس یو زۀ یم، شاعري ده او کوهاټ دے

جولائي ۲۰۱۴ء (رمضان ۱۴۳۵ هـ)

منمه چې په زړهٔ کښې د ساتلو سړے نهٔ دے
خو بیا هم دومره زر د هېرولو سړے نهٔ دے

د ګل غوندې نازک دے د سپوږمۍ په شانې سپین دے
حسین دے خو په سر د خېژولو سړے نهٔ دے

کېدے شي چې مرام یې حاصل کړے وي او لاړ وي
هغه خو د مېدان د پرېښودلو سړے نهٔ دے

هغــه خــو خپــل بچــي نهــر ســاتلے شــي خــودار دے
نــادار دے خــو د چــا نــه د غوښــتلو ســړے نــۀ دے

د دۀ پــه برکــت خــو تيَــرې لــرې شــوې رنـــا شـــوه
کـــم عقلـــو! دا لـــه کلـــي د شـــړلو ســـړے نـــۀ دے

زمـــا د زړۀ واکـــدار دے او زمـــا پـــرې اعتبـــار دے
هوښـــيار دے پـــه اغيـــار د تېروتلـــو ســـړے نـــۀ دے

زمـــا مـــدعي عـــېن د فېصـــلې پـــه وخـــت کښـــې ووې
شـــاکر کـــه نـــور هـــر څـــۀ دے د وژلـــو ســـړے نـــۀ دے

۲۸ ستمبر ۲۰۱۲

د علم د رڼا سندرې ووایه شاعره
د عقل د ځلا سندرې ووایه شاعره

کشمیر او فلسطین خو دې یاد کړي بلها ډېر دي
د خپلې پښتونخوا سندرې ووایه شاعره

د زړهٔ د درزیدو قصې دې ډېرې وکړې بس دے
د روح د مشغولا سندرې ووایه شاعره

د مرګ د خواهش منو په سینو ګل پاشي وکړه
د ژوند د ملګرتیا سندرې ووایه شاعره

شاکره! د نظر ښکلا خو هر سړي کړه یاده
د فکر د ښکلا سندرې ووایه شاعره

۱۰ فروري ۲۰۱۴ء

بس په دې خبره ما سره په ضد دے
چې زۀ تګ کوم او هغه منجمد دے

د ښار ژوند دے څوک يو بل ته وزګار نۀ دي
هر سړے په خپل خپل ذات کښې مقيد دے

دا د حق کاروان چې څومره منتشر دے
د باطل لښکر هم دومره متحد دے

هغه ګل مې لا تر اوسه "زړۀ کښې نال دے"
چې په رنګ او په خوشبو کښې منفرد دے

د نفرت د مسلکونو قائل نۀ دے
ستا شاګرد د الفتونو معتقد دے

***

زاویـــــې دي چـــې بــــدلېږي
دایــــرې دي چـــې تـــاوېږي

پســــرلے دے ږلــــــی وورې
سـرې غنچـې دي چـې غـوړېږي

د ژونـدون پـه دې ځنګـل کښـې
قــافلې دي چـې لــوټ کېـږي

په جنت وطن کښې خدایه
حادثې دي چې پېښېږي

بې مقصده بې مفهومه
ترانې دي چې غږېږي

د بې رنګه موسمونو
سلسلې دي چې خورېږي

د بنګړو موسیقي نشته
زولنې دي چې شرنګېږي

د مفادو په بازار کښې
نظرې دي چې خرڅېږي

د شیشې په شان نازکې
ستا وعدې دي چې ماتېږي

پـه دې ښـار کښـې څۀ ضرور شـته
مــړې جــذبې دي چــې ويښــېږي

کائنـــات يـــې مخمـــور کـــړے
دوه پيـــالې دي چـــې جنګېـــږي

پښـتونخوا کښـې ورځـې شپې دي
څـــومره ښـــې دي چـــې تېرېـــږي

د شـــملې نـــه پـــس شـــاکره!
لـــوپټې دي چـــې ورکېـــږي

۲۱ مارچ ۲۰۱۵ ء

چمن خو شته خو په چمن کښې ګل غوټۍ نۀ ښکاري
ځنګه سپرلے دے چې رنګونه په مستۍ نۀ ښکاري

ما د پښتو پښتو وردونه دومره کړي دي چې
زما په کور کښې پښتو چا ته ميرنۍ نۀ ښکاري

چرته د شپې به هم په غرونو کښې روان وو خلک
هلته د ورځې اوس په کلي کښې مرغۍ نۀ ښکاري

دومره خبر يم چې رشته ورسره هم نۀ لرم
خو کوم احساس دے چې بيا هم راته پردۍ نۀ ښکاري

د ارتقاء په نوم مو ګټه که تاوان کړے دے
زرکې په غرۀ کښې او کونترې په بلۍ نۀ ښکاري

په يو وجود کښې زۀ بلها سترګې لرم شاکره!
په مخه ځم که ستورې نۀ ښکاري سپوږمۍ نۀ ښکاري

***

ما ته به نه وي دا منمه د اظهار ضرورت
خو تا ته هم نشته جانانه د انکار ضرورت

په دې صدۍ کښې د يو بل نه خبريدۀ ځۀ مشکل
خو ما ته بيا هم راپيښ شوے د ريبار ضرورت

چې پسرلے وي، پېښور وي او ماښام هم وي
په داسې حال کښې خو بۀ نۀ وي د خمار ضرورت

اوس د ګودر په ځائے چې لاړې د هوټل ځارمه
اوس بدل شوے دے د ژوند د کاروبار ضرورت

د پښتونخوا منظر په سترګو کښې خوندي کړم ځملم
چې سحر پاڅم راته نۀ وي د اخبار ضرورت

"د محرومۍ احساس د هار غرمو وهلے شاکر"
محسوسوي د ژوند په لار کښې د چينار ضرورت

***

د نـــــازنینو پـــــه ســــینو لکـــــه لونــــګ ګرځـــه
نیازبینــــه یـــاره د خپــــل نـــاز اخلــه قلنــګ ګرځـــه

چې زمـا یـار وے پـه دې ښـار کښـې لکـه خـان وے تـهٔ
چـــې زهٔ دې پرېښــودم نـــو اوس لکــه ملنــګ ګرځـــه

تـــهٔ خـــو ګـــلاب یـــې خوشـــبویانې خـــوروه او ځـــه
تـــا تـــه دا چـــا وې چـــې خمـــار لکـــه د بنـــګ ګرځـــه

پـه دا سې حـال کښـې پـه دې وخت کښـې موسـیقي، توبـه
چې روح مې تنګ نهٔ شي بنګړو تـه ورکړه شرنګ ګرځه

شـــاکره! دا چـــې اهـــلِ ذوق نـــهٔ دي نـــو غـــم، د څـــهٔ؟
تـــهٔ شـــاعري کـــوه دې خلکـــو نـــه پـــه ځنـــګ ګرځـــه

۲۸ فروري ۲۰۱۷ء

د مات شوي زړۀ ازاره، ګنهګاره
ګنهګاره، د مات شوي زړۀ ازاره

زۀ ځارمه درته لاره، انتظاره
انتظاره، زۀ ځارمه درته لاره

زۀ به مړ شم بې خماره، نوبهاره
نوبهاره، زۀ به مړ شم بې خماره

اے د شپې اخري پاره، نا اتباره
نا اتباره، اے د شپې اخري پاره

زۀ دې نۀ کړمه ګواره، خوشګواره
خوشګواره، زۀ دې نۀ کړمه ګواره

د ګلونو کاروباره، مزېداره
مزېداره، د ګلونو کاروباره

زۀ دې وخـــوړم ښــاماره، هــائې خونخـــواره
هــائې خونخـــواره، زۀ دې وخـــوړم ښــاماره

پېښـــــوره د درد ښـــــاره، د ګـــــل هـــــاره
د ګـــــل هـــــاره، پېښـــــوره د درد ښـــــاره

زۀ دې پرېښـــوم اشـــکباره، ګـــل رخســـاره
ګـــل رخســـاره، زۀ دې پرېښـــوم اشـــکباره

ځـــۀ شـــکوه ده لـــه اغيـــاره، خپلـــه يـــاره
خپلـــه يـــاره، ځـــۀ شـــکوه ده لـــه اغيـــاره

ښـــکته نـــۀ شـــې لـــه معيـــاره، غـــزل زاره
غـــزل زاره، ښـــکته نـــۀ شـــې لـــه معيـــاره

د شـــاکر ســـره پـــه لاره، ځـــه دلـــداره
ځـــه دلـــداره، د شـــاکر ســـره پـــه لاره

***

د غمونـــــو تـــــورې لـــــړې راخـــــوَرې دي
د دردونـــــو د مرګونـــــو تـــــذکرې دي

پـــه بـــازار کښـــې د ژونـــدون ســـامان نايـــاب دے
تابوتونه، کفنونـــــــــــه او کتبـــــــــــې دي

چـــې انســـان دے لـــه قدرتـــه بـــاغي شـــوے
بارانونـــــه، ســـــيلابونه، زلزلـــــې دي

د رڼـــا ملګـــرو ! مـــه بـــې سُـــره کېـــږئ
دا تيَـــرې د يـــو څـــو ورځـــو مېلمنـــې دي

د وطـــن محافظـــان د ځـــان پهـــره کـــړي
د عوامـــو پـــه ذمـــه د کـــور پهـــرې دي

ملامـــت نـــۀ دے شـــاکر کـــه ســـاندې وايـــي
هېـــرې شـــوي د بلبـــل نـــه هـــم نغمـــې دي

۴ اکتوبر ۲۰۱۳ء

د ښائست عجائبات دي
چې خوارهٔ په کائنات دي

اعتماد، اخلاص او صدق
د دوستۍ لوازمات دي

چې فراق راته اسان دے
د يادونو ثمرات دي

چې ژوندے يمه په اور کښې
دا د مينې کمالات دي

د يوې خاورې پيدا يو
خو جدا مو خيالات دي

زړهٔ به نهٔ بائيلې شاکره!
زندګي ده مهمات دي

***

څوک چې په هره معامله کښې ملامت هم دے
هغه سړے په دې وطن کښې سلامت هم دے

ما ته خپل کور ته د راتللو اجازت هم دے
ما ته د ژوند د تېرولو سهولت هم دے

د خپل ضمير خلاف قدم يو اذيت هم دے
خو د ضمير په خوښه تګ يو مصيبت هم دے

بله لار نشته که خالي له محبت هم دے
خو چلوونکے دا ناکامه رياست هم دے

هغوي تل کړے د ګلونو اهانت هم دے
ورته حاصل چې د خوشبو معاونت هم دے

## ق

تاسو یې کړې د هر جرم وکالت هم دے
که رسولے مې قاتل تر عدالت هم دے

نهٔ صرف دا چې پکښې ستا مشاورت هم دے
زما قاتل ته خو حاصل ستا قیادت هم دے

هغه قایل د عظمتونو د جنت هم دے
چې پرېوتلے په دوزخ کښې د ذلت هم دے

دا مصلحت هم دے اشنا مفاهمت هم دے
چې راپغاره د دې خاورې حمایت هم دے

که نن سبا د مفاداتو اهمیت هم دے
شاکره! څهٔ نه څهٔ د مینې ضرورت هم دے

۲ اکتوبر ۲۰۱۷ء

د کلي د مالت قصې روانې دي که نه دي
زما او ستا د مينې نخښې ورانې دي که نه دي

تو ئېږي ضائع کېږي نه جلوس نه احتجاج
حُسېنه ! دا زمونږ وينې ارزانې دي که نه دي

د سوچ د استدلال او د منطق سبق مو نه زده
د ژوند د تېرېدو فلسفې ګرانې دي که نه دي

رښتيا وايه دروغ خو مې بلها زړۀ ته وئيلي
په ما دې د ځيګر کوخې ودانې دي که نه دي

چې زۀ يې تل ساتلے د باران له محتاجې يم
په ما دا خپلې اوښکې مهربانې دي که نه دي

د خپل اولس د درد ترجماني دې څو مره کړې؟
په نوم خو دې هندوې مسلمانې دي که نه دي

***

## فرد

زلمي ارمان پېغلې ارزو مې په کښې سر وخوړو
زما د زړهٔ په پېښور کښې چې چاودنې وشوې

۱ اکتوبر ۲۰۱۴ء

# نظمونه

# امن

امـــن د ژونـــد د پســـرلو نامـــه ده
امـــن د ګـــل او د وږمـــو نامـــه ده
امـــن د مینـــې د نغمـــو نامـــه ده

امـــن د علـــم د رڼـــا ضـــامن دے
امـــن زمـــونږه د بقـــا ضـــامن دے

د ژونـــدګۍ دکـــور تعمیـــر دے امـــن
دکائنـــات زړهٔ او ضـــمیر دے امـــن
د ترقـــۍ د کـــاروان میـــر دے امـــن

امـــن خونــدونو او مـــزو تـــه وايـــي
امـــن پـــه يـــو ځـــاے اوسـپدو تـــه وايـــي

د نـــاقراره زړۀ ســـــکون دے امـــــن
د محبـــت پـــه لاره يـــون دے امـــن
کـــه رښـــتيا وايـــم نوژوئـــدون دے امـــن

امـــن کښـــې ستا خپـر دے زمـا خپـر دے
امـــن کښـــې ګرانـــه د هـــر چـــا خپـــر دے

امــــن د عقــــل د شـــــعور لاره ده
امــــن د حســــن او د نــــور لاره ده
امــــن اشــــنا د کــــوهِ طــــور لاره ده

امـــن زمـــونږ د ديـــن اســـلام پيغـــام دے
امـــن د هـــر يـــو خـــاص و عـــام پيغـــام دے

## سیدنا امام حسینؓ

راځـــئ چـــې وستایو کـــردار د حســـینؓ
راځـــئ چـــې ګــام واخلـــو پــه لار د حســـینؓ
راځـــئ تـــاریخ د کـــربلا تـــازه کـــړو
راځـــئ چـــې راشـــو لـــړ پــه کـــار د حســـینؓ

راځـــئ چـــې وګنـــډو پرهـــر د حســـینؓ
راځـــئ چـــې ټـــول شُـــو همســـفر د حســـینؓ

د محبـــــت علمبـــــردار ۇ حســـــینؓ
د تحمـــل یـــو لـــوړ مینـــار ۇ حســـینؓ
د پیغمبـــرﷺ د بـــاغ ګـــلاب ۇ حســـینؓ
مـــدام روان پـــه نیغـــه لار ۇ حســـینؓ

راځـــئ چـــې لاړ شُـــو پـــه قـــدم د حســـینؓ
راځـــئ چـــې وژاړو پـــه غـــم د حســـینؓ

ډېـــــر نــــازولے نــــازنين ؤ حســـــېن ؓ
د سـپوږمۍ ســتورو نــه هــم سـپين ؤ حســـېن ؓ
پــه کائنــات کښــې خپــل مثــال نــۀ لـــري
توبـــه توبـــه ښـــومره حســـين ؤ حســـــېن ؓ

راځــئ چــې خپــل کـــړو اســـتقلال د حســـېن ؓ
راځــئ چــې پورتــه کـــړو مشـــال د حســـېن ؓ

د مصـــــطفٰي ﷺ ځـــان او ځيګـــر ؤ حســـــېن ؓ
د مرتضٰـــــي ؓ د زړګـــــي ســـر ؤ حســـــېن ؓ
د فـــــاطمې ؓ د زړۀ ټکـــــړه وه حســـــېن ؓ
دلـــــدار دلـــــدار، دلبردلبر ؤ حســـــېن ؓ

راځــــئ چــــې دا خبـــره ســـپينه وکـــــړو
راځــــئ چــــې ټــول ورســـره مينـــه وکـــړو

# ؟؟؟

اې د امن قاتلانو!
اې د مينې دښمنانو!
اې بې لارې رهبرانو!
اې بې رحمو! سنګدلانو!
د تهذيب دعوېدارانو!
د وختونو واکدارانو!

د ژوندون سامان مو لوټ کړو
د ښائست جهان مو لوټ کړو

## ایوب صابر

لکه ستورے په اسمان کښې
د پښتو په دبستان کښې
له تیَرو نۀ وېرېدلو
لکه شمع بلېدلو

نۀ نادار ؤ خو خوددار ؤ
مخالف د هر بادار ؤ
چې پېکر د نام و ننګ ؤ
هر ظالم سره په جنګ ؤ

نۀ نقاد او نۀ شاعر ؤ
د کوهاټ ایوب صابر ؤ

۲ فروري ۲۰۱۰ء

## سبق وایه بچیه

ځـان وپېژنـه نـر شـه اے زمـا د ژونـد سـپرلیه
سـبق وایـه بچیـه
څـۀ زده کـه عبـث مـه کښـېنه د علـم لارویـه
سـبق وایـه بچیـه

د لوبـو پـه وخـت لـوبې، د سبق پـه وخـت سبق
چـې جـوړ نـۀ شـې احمـق
د علـم ځلند سـتورے شـه ځلیـږه پـه افـق
چـې جـوړ نـۀ شـې احمـق

د بـل پـه طمـع مـه کښـېنه حرکـت کـوه زمریـه
سـبق وایـه بچیـه

چې علم او هنر درسره نهٔ وي ژوند بېکار دے
ښهٔ خوي د ژوند سينګار دے
عمل، مينه، وفا ، خدمت د ښهٔ سړي شعار دے
ښهٔ خوي د ژوند سينګار دے

د خلکو په خدمت کښې لوګے کېږه سپېلنيه
سبق وايه بچيه

د جهل دا تيَرې د خپل قلم په زور رڼا کا
روښانه دا دنيا کا
بېدار اوسه هوښيار شه ځان د وخت سره اشنا کا
روښانه دا دنيا کا

زما په دې خبرو عمل وکه لېونيه
سبق وايه بچيه

# ادې!

زما د خوږ زړګي درماني ادې!
زما په غم کښې پرېشاني ادې!
ما ته له ټولې دنیا ګراني ادې!

هر څۀ ډېر تېر دي خو تنها غونډے یم
بغېر له تا زۀ بې نوا غونډے یم

ستا د دعا په برکت پایمه
تا را ښودلے د الفت پایمه
زۀ په جذبه د اخوت پایمه

خو چې تۀ نۀ یې نو نیمګړے یمه
ادې! ژوندے نۀ یمه مړے یمه

د ژوند سفر کښې نا مراد نهٔ يمه
د مينې کور يم غېر اٰباد نهٔ يمه
دروغ به نهٔ وايم نابښاد نهٔ يمه

په هسکو سترګو ژوند کومه ادې!
خو ستا کمې محسوسومه ادې!

زهٔ هم دا ستا په شان خوددار يم ادې!
څهٔ خواري نشته په روزګار يم ادې!
اوس د ځلورو بچو پلار يم ادې!

بيا هم په مثل د مظلوم ژاړمه
په تا پسې لکه ماشوم ژاړمه

۱م جون ۲۰۱۴ء

## نوے کال

زۀ لا اوس هم پـه خپـل کـور کښـې يـم بې کـوره
زۀ لا اوس هــم زنـــدګـي کـــوم بـــې شـــوره
زۀ لا اوس هـــم تېرومـــــه شـــپه بـــې اوره
زۀ لا اوس هــم غــږ کــوے نــۀ شــم پـــه زوره

خلــک وايــي نــوے کــال دے نــوے کــال دے
شـــايد وي بـــه خـــو زمـــونږه خـــو زوړ حـــال دے

۱ جنوري ۲۰۱۴ء

## د پښتون زلمي ترانه

زۀ پښـــتون زلمـــے يمـــه ښـــکاره لکـــه د نمـــر يمـــه
زيـــــرے د ســـــحر يمـــــه
زۀ ســـينګار پـــه علـــم يـــم، ښـــکلا د بحروبـــر يمـــه
زيـــــرے د ســـــحر يمـــــه

زۀ بـــه خاتمـــه د خپـــل وطـــن نـــه د جنګونـــو کـــړم
کـــر بـــه د ګلونـــو کـــړم
زۀ بـــه دغـــه خـــاوره علامـــت د الفتونـــو کـــړم
کـــر بـــه د ګلونـــو کـــړم

زۀ د محبـــــت د کـــــاروانونو سرلښـــــکر يمـــــه
زيـــــرے د ســـــحر يمـــــه

زۀ خو مزرے د غرونو نۀ یمه انسان یمه
حسن د جهان یمه
زۀ د خپل اولس د ارمانونو ترجمان یمه
حسن د جهان یمه

زۀ سفیر د امن، مخالف د شور او شر یمه
زیرے د سحر یمه

زۀ د زماني په ازمېښتونو کښې پېدا یمه
ګل یم په مسکا یمه
زۀ تل زورولے د وحشت توري بلا یمه
ګل یم په مسکا یمه

هر مشکل ته لاره کښې ولاړ لکه د غر یمه
زیرے د سحر یمه

۹م مئي [illegible] ء (بازید خیل سکول اورکزی)

# تیراه به ابادېږي

تــوره شــپه بــه ســبا کېـږي ـــ پســرلې بــه را خــورېږي
ګودرونـــه پـــه ســـازېږي ـــ او حجـــرې بـــه ابـــادېږي

د جرګـو مرکـو خلـک ـ یـو ځـل بیـا را یـو ځـا ے کېـږي
بیـا بـه هیڅـوک نـۀ دردېـږي ـ بیـا بـه هیڅـوک نـۀ ژړېـږي
محبـــت بـــه ســـیوا کېـــږي ـــ او تیـــراه بـــه ابـــادېږي

وران سـکولونه بـه ودان شـي ـ ماشـومان بـه ور روان شـي
جوړ د لوبـو بـه مېدان شـي ـ مسـتقبل بـه مـو روښـان شـي

د احســـاس بـــاران وربـــږي ـــ د شـــعور ګـــلان ټـــوکېږي
بیـا بـه هیڅـوک نـۀ دردېـږي ـ بیـا بـه هیڅـوک نـۀ ژړېـږي
د تیَـــرو زړۀ بـــه چـــودېږي ـــ او تیـــراه بـــه ابـــادېږي

د ظلمونـــو دوران درومـــې ـــ د دردونـــو دوران درومـــې
د غمونـــو دوران درومـــې ـــ د جنګونـــو دوران درومـــې

ســتمونه بــه ختمېــږي ـــ خوشــحالۍ بــه شــروع کېــږي
بیـا بـه هیڅـوک نـۀ دردېـږي ـ بیـا بـه هیڅـوک نـۀ ژړېـږي

د حیـــا ځـــادر خـــورېږي ـــــ او تیـــراه بـــه ابـــادېږي

پــه نځــا بــه شــي ګلونــه ــ پــه خنــدا بــه شــي مخونــه
راپېــدا بــه شــي لعلونــه ــ را پخــلا بــه شــي وختونــه

د حـــالاتو ګـــرد وهلـــې ـــــ ائینـــې بـــه وځلېـــږي
بیـا بـه هیځـوک نـۀ دردېـږي ــ بیـا بـه هیځـوک نـۀ ژړېـږي
نښـــترونه بـــه خنـــدېږي ـــــ او تیـــراه بـــه ابـــادېږي

سـمې غرونـه بـه ابـاد شـي ــ پرېشـان زړونـه بـه ښـاد شـي
دشمنان به مو برباد شـي ــ غـل بـه غـل او سـاد بـه ساد شـي

دوبـــاره بـــه دغـــه خلـــک ـــــ لـــه کمـــرو نـــۀ غـــورځېږي
بیـا بـه هیځـوک نـۀ دردېـږي ــ بیـا بـه هیځـوک نـۀ ژړېـږي
ښائســـتونه بـــه زیـــاتېږي ـــــ او تیـــراه بـــه ابـــادېږي

اوس بــه ګرځــو لــرې لــرې ــ کــړو د مینــې بــه خبــرې
ځــۀ مصــرې او ځــۀ شــکرې ــ دواړه وایــو بــه ســندرې

د شـاکر د خیـال پـه بڼ کښـې ــ سـتا د یـاد بلبـل چغېـږي
بیـا بـه هیځـوک نـۀ دردېـږي ــ بیـا بـه هیځـوک نـۀ ژړېـږي
مـــرور بـــه پخـــلا کېـــږي ـــــ او تیـــراه بـــه ابـــادېږي

## زرين قانون

دلته په هر قدم قتلونه کېږي
دلته په هر قدم ظلمونه کېږي
دلته نادار سره انصاف نهٔ کېږي
دلته مالدار سره حساب نهٔ کېږي
دلته فرياد څوک د مظلوم نهٔ اوري
دلته ظالم نه څوک تپوس نهٔ کوي
دلته په ناپ تول کښې کمے جائز دے
دلته دولت دے د ښهٔ ژوند ضمانت
چې څوک دولت لري بس هر څهٔ لري
ښهٔ سړيتوب دے دولت
مشر ولي ده دولت

ایمانداري ده دولت
عقل او پوهه دولت
خو !!!!!!
څوک چې دولت نهٔ لري
هغه که هر څومره هوښیار سړے دے
هغه که هر څومره تورزن او وفادار سړے دے
که ننګیالے د زمانې دے نو هم
څوک یې عزت نهٔ کوي
څوک یې خبره نهٔ اوري
وائي !
دا نهٔ پوهېږي
دلته اخلاص،مینه،وفا ،ګناه ده
دلته خبره د رښتیاګناه ده
دلته دروغ د زندګۍ معیار دے
منافقت دے د ژوندون سلیقه
دلته امیر د پاره هر څهٔ روا
دلته غریب د پاره هر څهٔ حرام
مالدار که هر څهٔ وائي
نو معتبر دے کنه

ورته جائز دي کنه
خو يو غريب د خولې نه چونړ قدرې ويستلے نۀ شي
د غاصب مخکښې ژړيدلے نۀ شي
ولې چې دلته دا " زرين قانون " دے
چې څوک به نۀ ژاړي
که څۀ پرې کېږي
نو زۀ هم نۀ ژاړمه
هسې نا چرته د قانون خلاف ورزي ونۀ کړم
که د قانون خلاف ورزي مې وکړه
يا به د تورو تمبو شا ته شم لا پته به شم
يا به سړک په غاړه پروت يم په ګولو ويشتلے
غواړم چې دا جملې د زړو په اوبو وليکم
" ظلم زغمه خو بغاوت مه کوه "
" د خپل بادار مخالفت مه کوه "
د دې وطن څومره حسين قانون دے
قربان قربان څومره زرين قانون دے

۲۵ اګست ۲۰۱۱ء

## تصویر

دغه تصویر څۀ عجیبه تصویر دے
خدا ے زده ما ولړزوي
خدا ے زده ما ودردوي
خدا ے زده ما وژړوي
دغه تصویر کله نا کله ما بلها اوچت کړي
د اسمانونو نه مې بره بوځي
کله مې ښکته کړي د زمکې نه مې هم ښکته کړي
کله مې یوسي د ماضي په طرف

زۀ چې ورو کړے ومه
پـه ښـۀ او بد باندې بـه نـۀ پوهېدم
د مور د غېږې په جنت کښې به اودۀ ومه زۀ
او اوس مې داسې حال دے
چې سم د وخت په جهنم کښې پروت يم
کله مې فکر واخلي
چې مستقبل کښې به لا نور کوم قيامتونه راځي
دغه تصوير فقط تصوير خو نۀ دے
د دې تصوير شا ته د وخت بلها قصې پرتې دي
دغه تصوير.....................
دا تورې سترګې او ګلاب اننګي
د دې لائق دي چې يې هر سحر د پرخې پـه قطرو ووينځم
داسې پـه اوښکو يې لمدۀ خوشتۀ ليدلے نشم
دا مصلحت دا خاموشي نوره زغملے نشم
د جابرانو ،بادارانو نور منلے نشم
د انقلاب جهنډه را اخلم بغاوت کومه
د مظلومانو حمايت کومه

## د APS پېښور پېښه او زما بچې

زما د زړۀ د مملکت محافظ
زما د خيال د چمنونو وارث
زما د واړه ارمانونو حاصل
زما د تورو شپو روښانه سحر
زما د عمر د خوبونو تعبير
اکرم خليل !!!!
زما بچې زما د ژوند سهاره
زما د کور د رنګينو مناره
چې د شپې څملي
خپلې مور ته اوازونه کوي
ببو! يرېږم ما له خوب نۀ راځي
مور ورته وايي زويه! مه يرېږه
په ځان قل هو وايه
زۀ ترې تېوس وکړم چې ولې بچې!
هغه ځواب راکړي

---

ابو! چې څنګه سترګې پټې کړمه

څو نقاب پوشه سړي ووینمه
وسله په لاس زما په لوري راشي
زۀ تربنه منډه کړمه
خو دوي مې لار ونیسي
یو څو څپېړې مې په مخ ووهي
بیا مې د سر وېښتو نه ونیسي او را مې کاږي
ښه!! نو اوس ستا پلار شاعري هم کوي؟
د شېطانانو شاګردي هم کوي؟
سرکاري سکول کښې ماسټري هم کوي؟
بیا راته وایي څه اوس کور ته لاړ شه
پلار ته دې وایه چې ځان ووپېژني
دا خوشې کار دے، شاعري دې نۀ کړي
د انګرېزانو دلالي دې نۀ کړي
مونږ ته د کفر نظام نۀ دے پکار
په تا او خوېندو دې تعلیم نۀ کوي
د APS د ماشومانو دې انجام وګوري

۳۱م دسمبر ۲۰۱۴ء

## بې قراري

پسرلے د ے
ناز مستي ده رنګيني ده
ادا ګانې خنداګانې
ګډا ګانې
جينکۍ دي ډلې ډلې
چې ګرځېږي
په سحر کښې د مارغانو اوازونه

هوا ګانې معطرې
په هر لور خورې ورې دي
د ګلونو خوشبويانې
څۀ نشه نشه فضا ده
څۀ خُمار خُمار ماحول دے
دلته ډېر سهولتونه

---

ګېس ، بجلۍ
او
انټرنېټ هم
دلته ما ته ميسر دي
د اوبو هم کمے نشته
په کوڅه کوڅه کښې سکول دے
هسپتال دے
زما يو طرف ته ښار دے
هائے ناتار دے
شور غوغا ده
بل طرف ته د امرودو شنۀ باغونه
سبزه زار دے

په پټو کښې شنۀ فصلونه دي زنګېږي
د رڼو اوبو لښتي دي
په مزه مزه بهيږي
دا د ژوند سهولتونه
دغه ښکلي منظرونه

---

بيا هم زۀ خوشحاله نۀ يم
بې قرار يم
نۀ پوهېږم
چې دا ولې ؟
خو پوهېږم
چې زۀ ولې بې قرار يم
هغه ځکه
چې د خپل کلي نه لرې
په يو بل ښار کښې اوسېږم

۲۰ اپريل ۲۰۱۱ء کوهاټ

## فرد

زۀ هم لکه بوټې د ګلاب یمه
خومره چې پرې کېږمه غوړېږمه

# قطعې

تــهٔ د غــرور پــه ځلــورم اســمان ځلېــږې ســترګې
زهٔ دې د زمکـــې نـــه د حســـن تماشـــې کومـــه
تــهٔ د کــونترې پشــان د نګــو منــارو کښــې اوســې
زهٔ د شاهين غوندې په شنهٔ کمر کښې شپې کومه

زمـــونږ ذهنونـــه پـــرې ښـــېرازه نـــهٔ شـــو
دا د ګلونـــــــو ښـــــــکلا اور واخلـــــــه
هـــېڅ يـــې پـــه خونـــد او خُمـــار پوهـــه نـــهٔ شـــوو
زمـــــونږ د برخـــــې دنيـــــا اور واخلـــــه

د زلفـــــو نـــــم را بانـــــدې وڅڅيـــــدو
کـــــه نـــــا! شـــبنم را بانـــدې وڅڅيـــدو
ســـــتا د کـــــرم د ميـــــو جـــــام ؤ اشـــــنا
کـــــه جـــــام د جـــــم را بانـــــدې وڅڅيـــــدو

دلته په کور کور وحشتونه خوارهٔ
هلته په پل پل عظمتونه پامال
دلته د علم د اخلاقو کمے
هلته سپېڅلي رواجونه پامال

د رقیب لاس به ورته څهٔ ورسي
چې مې د زړهٔ په کوهِ قاف کښې اوسي
له بد نظره په امان دے جانان
تل د کعبې غوندې غلاف کښې اوسي

اے په قامونو کښې خودداره قامه!
خپلو بچو ته دې هنر وښایه
د ژوند تیَرو نه یې بهر وباسه
ورته د علم رڼ سحر وښایه

د دعا او شفقتونو نه محروم یم
د بلها برکتونو نه محروم یم
"ځان په خپل کور کښې بې کوره راته ښکاري"
چې د مور د الفتونو نه محروم یم

# پېژندګلو

**نوم:** محمد خليل

**قلمي نوم:** شاکر اورکزے

**د پلار نوم:** مستان ګل

**د زېږون نېټه:** ۴ مئي ۱۹۸۳ء (د سکول سند مطابق)

**قام قبيله:** شېخان ،اورکزے

**استوګنه:** نوي ابادي ځنګل خېل کوهاټ

**زده کړې:** ايم۔اے (پښتو)، ايم۔ايل، پي ايچ ډي ريسرچ سکالر (پښتو اکېډيمي، پېښور پوهنتون)

**پېشه:** په سرکاري سکول کښې ښوونه او روزنه (درس و تدريس)

**ادبي تړون:** اورکزي ادبي قافله، ساهو ليکونکي کوهاټ

**چاپ اثار:**

- په غرونو کښې ګلونه (تذکره) تاليف
- ځلک (شاعري) هم دغه
- مختلفو رسالو او اخبارونو کښې تنقيدي او تحقيقي مضامين

**ناچاپ اثار:** د ښکلا په لټون (رپورتاژ)



د شاکر اورکزي شاعرانه احساسات که څهٔ هم د ۱۹۹۹ء نه را په دې خوا راټوکیدلي او تر دې دمه نې لږ و ډېر اتلس کاله مزل کړے دے. یقیناً په ابتدا کښې به د دهٔ د شعر بهیر یو څهٔ لړخاند او یا د تاؤدو جذباتو پامته دار پاتې شوے وي. خو د وخت په تېرېدو او د اهلِ ذوق سره د صحبت په اساس نې دغه احساس لا قوي او دقیق شوے. همدغسې که له ما نه وپوښتل شي چې د "څلک" او "شاکر" تعبیر په لنډو ټکو کښې بیان کړه نو و به وایم چې دا د محمد خلیل (شاکر اورکزي) د تندو جذباتو او روانو احساساتو ظهور دے چې هغهٔ د اورکزیو له سیمې پښتنې جهان ته وړاندې کړے دے زهٔ د شاکر او د شاکر د شعر د څلک نه هیله من یم چې دا به د پښتو او پښتنو دپاره د یو ښهٔ زیرې سبب وګرځي او دهٔ ته په دې زیار د تبریک کلمات وړاندې کوم.

پروفیسر ډاکټر نصر الله جان وزیر

ډائریکټر پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون